دکتاب ځانګړني

د کتاب نوم :	انساني سرکس
لیکوال :	محمود نظری
موضوع :	طنزونه
د چاپ کال :	۱۳۸۱ ل
کمپوز/ ډیزاین :	خپله لیکوال
چاپشمیر :	(۱۰۰۰) ټوکه

www.Ketabtoon.net

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست

۱- دا خنداوي او دا ژړاوي
۲- سریزه
۳- انساني سرکس
۴- زما ولا که زده کیږي!
۵- وړاندوینه
۶- د ځغاستې ملي سیالۍ
۷- تک ډم ډم تک
۸- کشتۍ کې
۹- منته
۱۰- پنچر مین
۱۱- خوش خدمتي
۱۲- دا بي بي سي لندن دی!
۱۳- ښکروره تاریخي بد نامي
۱۴- چونګ چونګ د فتح خان
۱۵- کمپوټري مشر
۱۶- ټاپه
۱۷- ددغه دغه
۱۸- پام چونګښه مه یادوه!
۱۹- ډاکټر صایب کوتان(قوطان)
۲۰- که زما مني کله کله ګداېې هم کوه!
۲۱- تبر علیکم
۲۲- .....دد رواغو بازار....!
۲۳- ویر مې زده کړ!
۲۴- ښه او بد

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۵- ملت او حکومت
۲۶- ستنګرې ښځې
۲۷- ټولوا کمني(امپراتوري)
۲۸- د درویش ډالۍ
۲۹- د روژې پنځلسمه افتر شو
۳۰- پر پاچاهې يې نه ور کوم
۳۱- د څو کۍ خوند
۳۲ - مامور باشي فشره خور باشي پيش بيا
۳۳- کسر شان
۳۴- مدرنيزشن
۳۵- څو زه بیچاره!
۳۶- رایګیري
۳۷- پروپاګند
۳۸- ښکلا دې وي همداسې
۴۰- چاغ، چاغ
۴۱- مډرنه سيالي
۴۲- مجرد کوپون لرونکي
۴۳- د غوښو ضررونه
۴۴- ورته نومونه
۴۵- ځانګړې مر که
۴۶- د رییس غروب
۴۷- پور افيستل

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا خنداوي او دا ژړاوي

ځیني کره کتونکي پر دې چي ګوندي له جلا هیوادی سره زموږ ادبي زیږندویی ورو ورو له خپلي شا ته پرې ایښې ټولني سره واټن پیدا کوي او پردی کېږي ځکه زیږندویانو یې اړوند چاپیریال او تشیال(فضا) له لاسه ورکړي او له بلې خوا یې ځنګه چي د اړوندې نوي ټولني هغه هم لا پوره نه دي را خپل کړي ، نو د کوم نوي رنګ و خوند هیله ترې هم نه شي کېدای خو خبره داسې نه ده ، هغو چي تر جلا هیوادی له مخه د لیکوالي ازمېښتونه او بیا نوښتونه تر سره کړی ، یا په بله وینا د هماغې خپلي ټولني د ژوند و ژواک تر سیوري لاندې یې پنځوني کړې او د زړه او ذهن مراندې یې ورسره لاهماغسې ټینګي او ترینګي پاتې دي ، نو هرومرو یې نوي هستوني هم له خپل ټولنېز چاپیریال او تشیاله اوبه څښي او کوم هنري یا تخنیکي ادلون بدلون پکې هم سترګي غړوي د پردیوالي زیږنده نه ، بلکې د پرمختیایي یون ځلندویي یې کوي ، هغه هم په کوربه هیواد و کې څه نا څه د څو کلن هوسا او بسیا ژوند و ژواک او پرمختلي اکر بکر له برکته . که څه هم په سیده ډول یې لا له ادبي او فرهنګي پر مختګونو څخه پوره اغېزمن او برخمن شوي نه دي.

هو ، هغه کوږت تنکي کهول چي یا به کمکي منګ کې له خپلو اړونداو سره را کډوال شوي او یا هم راوروسته نړی ته راغلي او د مور او پلار یا بل خواخوږي په روزنه او هڅونه یې لیکوالی ته ملا تړلې ، اړینه نه ده چي د خپل پلرني او مورني ټاټوبي ټولنیز اوفرهنګي تشیال را خپل کړاي شي او په دې ډول یې د هغو کره کتونکیو ورمند(قضاوت) رښتیا نه موندلاي شي.

زموږافغاني او بیا پښتني ټولني له وروستیو دوه — دوه نیمو انقلابي ، جهادي اړ دوړ سره له څو پېړییزو درنو خویونو څخه دومره سخت بوږن خوړلي چي نوریې د تل لپاره خوب له سترګو تښتېدلي او د یوه بېساري خوځون او اوښتون ځپاند ا باسین پر مخه اخېستي ، تر دې چي نه یوازي پخواني لیکوال او فرهنګیالان یې زیات هڅانده او بهانده کړی ، بلکې ډېر کم زده کړي او یا د ببلا ببلو ځانګو والا یې هم لیکوالی او ان شعرو شاعری ته راهڅولي او د جلا وطنی په لومړی لسیزه کې یې ډیر څه پر خپل فرهنګ او ادب پیرزو کړي چي که څه هم له تخنیکي هنري پلوه ډیري په ټیټه کچه راځي ، خو له ژب - اندیز پلوه یې د خپلي جنګ و جهل وجنایت ځپلي ټولني د دردونو او کړاوونو پوره انځور ګري کړې او ورو ورو یې ژبه ښکلاییزه جوله هم یوه بشپړتیا یې بهیر ته راګډیږي.

محمود نظري له هماغو لومړیو لیکوالو او بیا ځوان طنز کښونکیو څخه دي چي لږ تر لږه یې د دغه په زړه پوري ادبي څېل دوه ټولګه له جلا هېوادی له مخه په خپل ټاټوبي کې راهستولي او دا دی د دریمي دې ډیری برخه یې په جلا وطني کې مینه والو ته وړاندې کېږي ، که ارواښاد منان ملګري او کاتب پاڅون چي په تیره لسیزه کې یې پر له پسې څو طنزیه ټولګې به پیښور کې وکښلي او خپرې کړې که پښتونخوا بهر ونه شمیرونو په لودیځ مېشتو پښتو طنز لیکونکیو کې محمود نظري تر میرزاعلم حمیدي او خپل ورور واحد نظري را وروسته دریم پښتون دی چي د جلا وطن پښتو ادب د دغه نومېرلي څېل یوه په زړه پوري او نوښتګرانه ټولګه را بشپړوي او چا پ ته یې سپاري. هسې خو نن سبا هر ادبي څېل که داستان دی ، یا شعر ، ندارمه(ډرامه) ده یا فېلمنامه.... پر خپل خپل وار زموږ د وران ویجاړ هیواد او کړېدلي او کړولي ولس د تېرو خونړیو لسیزو په تیره د وروستی دې یوه ځلانده هنداره ده چي د یوې ناسپېڅلې(کمونیستي ، اخوان ، ستمي) ټلوالي په منځته راتګ سره پکې د حجاج قطیبه ،چنګیز ، هلاکو ،کوډ تیمور ، بابر ، الغ بېګ ،اورنګ و فرنګ دپېریو ناورینونه راغبرګ شول او لاتر اوسه یې پایله او پایڅوړ پاي ټکي نه دي موندلي.

زموږ ځوان طنز کښونکي په خپلو دغو پنځونوکې هڅه کړې ، هغه ګرد ناورینونه ، ناتارونه ، بدي ورځې او بدمرغي د هماغو لوبغاړو یو کره را انځور کړی چي د میلونونو ربړیدلو او کړیدلو رښتیني ښکارندویې او استازیدونې کوي هغه هم د ټوکو او ټکالو یا به بله وینا ترخو ملنډو او خنداوو ، موسکاوو د زړه راکښو نکو وییونو. ګړنو. نغوتو ،غبرونو او زهرژلو پیښو او تېښو په ژبه یې له دې چي لوستونکي او اوریدونکي یې وار له واره رانغښتو تروو ترخو ته ځیر شی ،لومړی یې بې والکه پر موسکا او خندا راولي او بیا وروسته وروسته یې هغه موسکا او خندا پر ژړا او خواخوږي ور بدلوي. دا د طنزوهغه کوډګري او جادوګري ده چي نور ادبي څېلونه یې په ټول ښکلا ییز ، نداریزاو سندریز پرداز او راکښون سره سیالي نه شي کولاي.

د محمود نظري ټول (۴۲) طنزونه یا په بله وینا طنزویه کیسې او افسانې په دواړو اړوندو تخنیکي ارونو پوره سمبالې دي او د خندا او موسکا توکي یې پکې بیا دومره راځاي کړي لکه څومره چي د انتقاداو ګوتنیوي زهر پکې اخښلي راخښلي دي .

په دې لړ کې ژونی(حیواني) افسانې

بیا په ځانګړي ډول ډیري زړه راکښونکې او نوښتګرانه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هسې خو بېله هغې په پښتو نومهالي کیسه یي ادب کې د داسي افسانو څرک ډېر لږ لګول کیږي او بیا د داسي طنزیه افسانو څرک چې تر بل هرې ادبي زیږندې او ځیل زموږد وروسته پاتې ټولنې پرونیو او نڼیو بد مرغیو ته په خورا اغېزمنه ټوکه ګوته نیسي او را بر بندوي یې .

لومړۍ بیګه یې چې (انساني سرکس)نومېږي او د ټولګې په پیل کې یې راوړې ،له هره پلوه له خپل تشیال وچاپېریاله تومنه اخلي او لوبغاړي یې هم د خپلې ټولنې له بیلابیلو ځېښلواو ځېښاګر پاړکو او پوړونو څخه را امرلي دي که یې څه هم په ښکار ه د ژویو او ځناوروځرمني او یا ځیرې(ماسکونه) وراغوستي او له همدې کبله یې هم (انساني سرکس) نوم ورغوره کړي دی. دویمه(کشتی کج) افسانه یې له لنډون او کوټلتیا سره سره دومره په زړه پورې او خندوونکې ده چې ښایي زموږ په ټول طنزیه ادب کې بېساري وي.

لیکوال هرومرو د دغه طنز سو ژه د دې ځاي له تلویزوني خپرونو اخیستي خو تر انګریزي ټولنې یې له خپلې هغې سره ډېره ښه اړخ لګوي او خپل لوستونکي او اورېدونکي په نااګاهانه ډول هغې خوا ته ورځکوي.

(دا بي بي سي لندن دي !)د ښاغلي نظري یوه بله نوښتګرانه ژونۍ افسانه ده چې منځوال لوبغاړي یې چونګښه ، مار او نولی (موش خرما) دي چې کټ مټ د افغاني ټولنې انحورګري او ښکارندویي کوي او بیا دا چې څنګه یې چوپه خوله ډېري د یوه یوازیني زورواک څخه وړاندې سره یوخوله او یو لاس کیږي را پرځوي یې او زور او ظلم ته یې د تل لپاره د پای ټکی ږدي.

په دې لړ کې ټولواکمنې(امپراتوري) نومې افسانه بیا پر یو سرچپه پایله پای ته رسي او هغه هم د یوه سپرلم(روبا) په بېخرته چل ول او چاپلوسۍ د شرمښ واکمنې نوره هم پراختیا مومي او ټولواکمنۍ ته رسېږي.

نوري لنډي لنډي ژونې افساني یې بیا څه نا څه پېلامي (سمبولیک) رنګ لري او په دې ټوکه د هرې هغې ټولنې له تشیال سره اړخ لګولاي شي چې له افغاني ټولنې سره د ډېرو اړخونو له پلوه ورتوالي لري.

د ځوان نظري د قلم له تیرې او غوځنده ژبې څخه د ټولنیزو او سیاسي نا خوالو هیڅ لوبغاړي نه دی پاتې نه یې پر هیواد مشر اړي کړې ، نه پر وزیر.ښاروال او نورو جګپوړو چارواکوکارمندانو او پولیسو ، هم یې دجهادي مشر سابه پر مالګه کړي او هم یې د اړوندو ټوپکیانو ،د ناوړو ولسي دودونو او انساني ضد ناخوالوچاروال یې هم تر سیاسي هغو کم شرمولي نه دي او کله چې له کندهاره د کراچې خوا ته کډوال کیږي.په خورا نوښتګرانه توکه د خپلو انتقادي او رسواګرو طنزونو له افغاني لوبغاړو سره پاکستاني هغه هم را نغاړي لکه واخلې په (د ځغاستي ملي سیالۍ) ،(خوش خدمتي) او داسي نورو کې خو دغلته یې له کښلو ېېلګو څخه (وړاندوینه) له هغه په زړه پورې او ډېر خندونکو کوښنیو طنزونو څخه ګڼل کیږي چې په نړیواله کچه پکې د کوربه هیواد د سرکاري اډاني کرغېړنترین استازي (پولیس) د اتلوالۍ تر پوړۍ رسوي او د اړوند مدال جوګه کوي یې (د ځغاستې په ملي سیالۍ) کې یې بیا همدغه ساتندیه ځواک(!) د اتلولۍ په درېیم دریځ کې راوستې چې پوره دلیل یې هم ورسره و ړاندې کړي دي.

له داستاني پلوه هم د نظري پوره هڅه کړې لکه له تلوسو ،ترینګلتیاوو یا غوټو اچولو څخه تر وسې وسې کار اخېستنه او تر ستونځ (اوج) یې رسونه ، بیرته پرانېستنه او یو نابېره او زړه راکښونکې پایلې ته یې ور سیخونه چې په دې لړ کې یې ډېرې ښایسته بیلګې نېښ لګي وزمه پایلې راځپلوي له متنې کچې له پلوه یې هر ګوره ډېر طنزونه د لنډ داستان ځانګړتیا نه را پوره کوي بلکې د ادبي ټوټو غوندې له مخ نیم زیات تېرې نه کوي چې داستانکي
(Short-short story) نوم بیا هم ورکولاي شو

او یوه نیمه بېلګه یې چې د ټوکو بڼه لري ، په یوه دوو پراګرافو کې را کوټلې شوي دي ، که څه هم نن سبا د عادي لنډ داستان دودیزه کچه هم تر پنځو زرو ویيونو څو برابره لویه شوې او را کوشنۍ شوې ده او څه پکې ډېر پاموړ ګرځېدلي و هغه پر له پسې ترنیګلتیا او ځنډ وخنډ یا تلوسه او پیغام ښندې او ورسره ورسره راکښونکې پایله ده.

د سکالوو(سوژو) له پلوه هم د ښاغلي لیکوال نوښتګرانه ځانګړتیاوي او بیا هغو ته طنزو خندا ژبه ورکول د ده د لوړ استعداد او ورتیا ښکارندویي کوي اوله دې سره یې د ژوند اند او لوړ واند(تخیل). دلته کیدای شي یوه نیمه پېښه یا ټوکه یې یو مخیز ډول له خپلو موندنو او رابرسیرونو څخه نه وي . خو چې ده ورته کومه څرګندیزه او انځوریزه جامه او جوله وربښلې ،د هیڅ راز بیا ځلې(تکرار) ورم توږم ترې نه ننګیرل کېږي.

ژبنې جوله یې هم ښایسته ډېره زما تر لاڕښود او سمون سره سمه د یوې- کره لیکنۍ پښتو ښکارندویي کوي د ځانګړې طنزیه وییپانګې ځیني دود پارسي پور وییونه مې هم لږو ډېر ور پښتو کړل لکه تبسم ، لبخند(موسکا) ریشخند یا پسخند(خندې) ، وقي (پوخ پټیر)، یا انګینومونه (طبیعي اصوات) لکه د مار پښ (پښهار) د خره هنګا د سپې غپا د ډول اواز لکه تک دم دم او همداسې پسې پاروني(هیجاني) چیغې یا غبرونه لکه اخ ، اوخ یا تحسیني وییونه لکه واوا. وه وه او نور دړواخله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو په ټولنيز او پرتليز ډول د ښاغلي نظري پښتو ليکلار تر ډېرو نړه او کره ده لويه ښيګڼه يې هم بيا دا چې په دغه اړه د هيڅ راز لاربښوونې له منني سرنه غړوي او هغه د خپلې طنزيه ليکوالۍ لپاره ګټورې او ارزښتمنې بولې يا په بله وينا د جولې او منځپانګې تر منځ ديالکتيکي تړاوته ارزښت ورکوي.
زه پوره ډاډ او بيا باور لرم چې زموږ دغه ځوان طنز ليکونکي په خپلو راتلونکيو زيږندو وييو او هستونوکې د ژب- ښکلاييز او ژب-انديز او بيا تخنيکي اړخ له پلوه پر لا نويو اومېښتونو او نوښتونو لاسبري وومې او لا ستري برياوې يې به برخه شي او همدې هيله يې پر ارزونه بس راوړم.

پوهاند دوکتور م.ا.زيار
اکسفورد مارچ ۲۰۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

سريزه

انساني سرکس زما د طنزونو دريمه ټولګه ده چې د پښتو ادبياتو مينه والو ته يې په ډيره مينه وړاندي کوم ، دا ټولګه دوې برخې لري لومړۍ برخه يې هغه طنزونه دي چې ددويمي ټولګې وروسته ليکل شوي اوتر اوسه نه دي خپاره شوي او دويمه برخه يې هغه طنزونه دي چې د ډيرو مينه والو په غوښتنه د لومړي ټولګې(د څوکۍ خوند) او دويمي ټولګې (سر خلاص که!) نه غوره شوي دي .

هڅه شوي چې د مروجو لغاتو تر څنګ معياري وييونه هم ورسره وليکل شي.

دلته غواړم ډير لږ پر طنز چې څه شي دي رڼا واچوم:

د طنز مبنا شوخي او خندا ده خو خندا يې د خوشالۍ خندا نه ده دا خندا جدي ، ترخه او درونکي ده. هر طنز خندا لري خو هره خندا لرونکي لېکنه طنز نه دی ممکن هجو ، هزل يا ټوکه وي .

هجو: د شخصي غرض له مخي د عيبونو او نواقصو مسخره کولوته وايي ، چې هدف يې تحقير او تنبه ده. هجو د مدح ضد مانا لري.

هزل: د تفريح او خوند لپاره په ډيره محدوده ځانګړي ټوکه ډيره رکيکه شوخي ته وايي. هزل د جد ضد مانا لري.

ټوکه : ټوکه په نامحدوده او عمومي سطح يوې منځ مهالي شوخي ته وايي چې هدف يې يوازي خوشالي او خندا ده ،د دې هدف لپاره د هري وسيلې څخه کار اخلي ،نو هدف يې هغه وسيله ده.

طنز: طنز په عمومي توګه د عيبونو او نقصونو بيان په خندا لرونکي ډول دي چې هدف يې د موضوع تحقير او تنبه ده.

د طنز وسيله اوهدف يو له بله څخه زماني واټن لري .طنز امکان لري خندا ونه لري يوازي موسکا ولري خو دا خندا او موسکا د خوشالۍ خندا نه وي دا خندا ترخه ،تاثيرناکه او دردناکه وي خندا يې زهرژلي خو اغيزمنه وي ، يا به بله وينا ټولنيز غرض لرونکې هجو ته هم طنز ويلاي شو.

د هزل او ټوکې خندا خوشالونکي خو دهجو او طنز خندا ځورونکي ده.

دطنز ليکونکي قلم د جراحي چاړه ده نه سرې وژونکي چاړه .ارام ښښونکي او سلامتي راوړنکي وي .

د ټوکو په اوريدو به شايد کټ کټ وخاندو خو د طنز په پوهيدو سره شايد وژاړو.

که چيري په دې ټولګې کې فني ، ګرامري اوچاپي تيروتنو او غلطيو سره مخامخ شي چې البته بې شميره دي ما وبښئ البته د امکان په صورت کې

په درنښت
پوهنمل محمود نظري
لندن ۲۰۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

انساني سرکس

دسرکس د ژویو غونډه هم لکه د انسانانو پر دسترخوان پیل شوه. لومړی پیل وویل:
عجب بد روږدي شوي یو ، انسان چې جیب ته لاس کړي زموږ پښې په تخنیدو شي او بې اختیاره نڅاه پیل کړو.پښې ،لاسونه ،لکۍ اوسر مو دپخوا هاخوا کیږي او سوچ کوو چې کومه ورسته کېله یا تر وخت تیر چاکلیټ راکوي. موږ هم لکه ځینو انسانانو چې د هغو سترګې دشتمنو په پورتنیو جیبونو او زموږ سترګې لاندینیو جیبونو کې وي.
زمري د یو امرانه ټوخي وروسته د تایید په ډول سروښوراوه او ویې ویل:
- مخکې به چې چا پر بریتو لاس تیر کړ ما هغه کله ژوندی پرېښودی، خو اوس که مې انسانان تر لکۍ هم ونیسي ولاکه سترګې لا ور پورته کړم. انسانان یو متل لري چې وایي : شوله ات را بخور پرده ات را بکو!
څه بد کار دی ، دې ته برګ هغه ته برګ...
پړانګ د چوک چوک په ویلو په افسوس سره وویل:
- عجبه زمانه شوه! توبه توبه (پزه یې پرمخکه تیره کړه) او زیاته یې کړه ، موږ د انسانانو مریبان شو!....
د غونډې ګډونوال هم په توبه ایستلو شول .چا پزه پر خاورو موښله او چا لکۍ پر خاورو لړله پر مخ او پزه یې شیندله.
سپي چې سر یې په کاسه کې پټ او شرپې یې جوړ کړی وو سر را پورته کړ او ویې ویل:
- توبه ، توبه انسانان چې ځان ته اشرف المخلوقات وایي لا د نورو اقتصادي مرستو ته نځیږي او مریبتوب یې کوي خو هغو بیا موږ په یوه چاکلیټ او یوې کېلې نڅوي ، خیر دا به هم تیر شي دهري تیارې پسې روښنایي ده.
آس تر یوې شېنا وروسته ځان و ښنډی او ویې ویل:
د خدای لپاره د ژویو نوم مه بدوی ، موږ د دوی د خوشالۍ لپاره نځیږو ، دا وروستې کېلې او کلک چاکلېټونه زموږ د خوړو توکې دي خو انسانان د نورو د ژر ولو په پار د بل ډول ته نځیږي(له ډیري غوسې یې درې واري غاړه وښوروله)
وزې چې تر اوسه یې شخوند واهه خپله کوسه ږیره یې وښوروله. بع بع یې کړل او ویې ویل:

- زه دآس صیب خبري تاییدوم نه د دې په خاطر چې دواړه په یوه ګوند کې یو .زه انسان نه یم چې باید هرومرو د ګوندي ملګري درواغ تایید کړم (یو په غټ سر سپین درواغ وایي چې شودي توري دي او هغه بل چې ولاړ شي په بې شرمي وایي په خدای توري دي) خو زه له حقه نه تیریږم ،دا کېلې او چاکلېټونه زموږ د خوراک یوه برخه ده چې انسانان هغه په ټوک ټوک راکوي . خبر شوي به یاست چې په کوم ځاي کې د ژویو خوراک یو اشرف المخلوقات د خپلو بچیانو د نس مړولو لپاره کورته یوړ ، نو هغه وو چې حیوانات له لوږې مړه شول او د هغه اشرف المخلوقات بچې د وروستو خوړو له کبله په نس ناسته اخته شول دا چې اشرف المخلوقات حق په سمه نه ورکوي نو خود به موږ ورته نځیږو...
موږک څو واري پزه وکښله او لکه پوخ سیاستمدار یو ګام مخکې ته شو او بیا دوه ګامه تر شا ولاړ او ویې ویل:
دا زړې ببولالې دي حق نه ورکول کیږي حق اخیستل کیږي زه خپل حق د غاښو په زور اخلم نه چا ته نڅاه کوم او نه چا ته تیتیږم.
کوږ چې ژبه یې پر شونډو را کښله وویل:
- ته او خدای دا سر او لکۍ ښورول نو نځیدل دي ؟ دوي سوچ کوي موږ نځیږو له اره (اصله) دا ورزش دی .
ټوله په خندا شول
مار په پښهار سره وویل:
ږغ مه لرئ دا سیاست دی تاسو خپل سپورت کوئ.
اوښ خپله شخه غاړه څو واري اوږده کړه او ویې ویل:
اشرف المخلوقات خورا ساده دي که موږ د دوی پېښې وکړو دوی خاندي ، موږ په دوی رشخند وهو خو دوی له خندا تک شنه شي باید وژاړي...
پیشو چې مخ یې په لاسو پریولي داسې یې وویل:
موږ چې پر دوو پښو ودریږو ، دوي ته خندا ورځي ، که په ډکه خوله خبري وکړو ، یاپه نا پوهي کې ځان تر ټولو پوه وبولو . دوه پښته پر بایسکل سپاره شو...

(c) ketabton.com: The Digital Library

پيشو زياته کړه: هغه ورځ له پروګرام سره سم په ترلو سترګو تر شا تلم خو دوي دومره وخندل چې نژدې وو ځيني سکته وکړي. ما ته د دوی په خندا داسې خندا راغله چې بې اختياره له شا له خوا رغ را ځخه وشو او تښتيدم.
پيلمرغ چې لا تر اوسه يې پزه پر مځکه کښله سر را پورته کړ او د يوه اوږده ټوخي وروسته يې وويل:
دا ښه کار نه دی چې د سرکس فضا دي ککړه کړه دا لوشه (خاصيت) دي انساني ګڼم.نورو ژويو هم د پيلمرغ دا خبره تاييد کړه .
نولی (موشخرما) وويل:
دا ماته لا ترمخه خاينه برېښيده ځکه له انسانانو سره ډېره راشه درشه لري او هر وخت لکۍ ورته ښوروي ان وايي ځيني خلک هغه په کورو کې ساتي!
سپي د دي په خاطر چې دی هم را ښکيل نه شي موضوع يې بلي خواته واړوله او ويې ويل:
دې اشرف المخلوقاتو خپل د کمون اوليه ژوند هير کړی دی دا ټوله د بيزو له لاسه!
ټولو ځناورو بيزو ته بد بد وکتل .
بيزو په غوسه سپي ته وويل:ما څه کړی دي!
سپي ورو ورته وويل:
ولې داروين دروا‌غجن درته ښکاري ؟
بيزو سر وګراوه او ويې ويل: خير يوه ګناه مو نيکونو وکړه !
او د دستر خوان له يوې خوا نه يې ټوپ کړ او له خندا تکه شنه شوه او ويې ويل:
دا ځوانان مو ليدلي دي چې د نوي پتلانه پايڅې پرې کړي اوبيايې واغوندي او ځيني انجونې بيا د پتلانه يو نا مناسب ځای سوری کړي او د ځينو بيا پتلونونه په پښوکې
پراته وي او خوک چې ورته وګوري ګنهکاره کيږي ، ځيني بيا دومره تنګ پتلون اغوندي چې توبه ،توبه چې زه ورته وګورم چې لا حيوان يم سترګې مې شرميږي خو ژر خپلې سترګې خلاصې کړم او د خپلې ګرانې بيزو کۍ ياني ستاسو وريندارې سترګې ور بندې کړم چې خداې مه کړه هغه لکه ځيني انسانان بد لارې نه شي .
پيشو د بيزو خبرې پرې کړې او ويې ويل:
- دا خوی دي هم انساني دی ته هم غواړې د ژويو نوم بد کړې ،ته هم د هغو په خبرو اوره اخښې ، تا د هغو ی څخه زده کړې دي .
شتر مرغ چې د وزر لاندې دکوم شي پسې ګرځيدی سر راپورته کړ او ويې ويل:
- که موږ په سر کس کښې يو بل خطا باسو يا په ځان او جهان د يو بد نيت سرې اکټ وکړو بيا دا انسانان د خندا شنه شنه کيږي او د ځان سره وايي: د غو ژويو دا ښه خويونه له موږ څخه زده کړي ، بلاکوي ، بلاکوي.
يږ سر وګراوه او ويې ويل:
-دوی ځکه خاندي چې نورحيوانات د انسانانو په نوم و شرميږي ، نو ځانونو ته تسل ورکوي چې دا کارونه خو ژوي هم کوي ، بيايې په خندا خندا مخ زمري ته واړوه او ويې ويل:
- په ياد مو دي . هغه ورځ چې دوو انسانانو لکه موږ يو پر بل بريدونه کول يو بل يې په وينو سره کړي وو. نوموږ هم زموږ د کرو په پښنو کولو ځومره وخندله.
بيزو ته چې دا د انسانانو يو بل خپه کول او پرې دانګل ور په ياد شول ، د خندا له زوره يې پوخ وهه او د هغو د پښنو په کولو يې ټول ناست ژوي په خندا کړل .
وزې په خندا خندا وويل:
-هغه ورځ مو په ياد ده ، چې هغه سرې ډوډی خوړله او په ډکه خوله يې خبرې کولې د ډوډۍ بڅرکې يې له خولې دېخوا هاخوا شندل کيدل.
هو. هو خندا داسې زور واخيست چې د خره هنګا چې دوی يې بهر غوښتل وا نه وريدل شوه چې خندا لږ ورو شول بيزو بيا د هغه سرې پېښې وکړې چې په ډکه خوله يې خبرې کولې او ويل يې ګورې ماښام دی (ګولې مه شام دی).
د بيزو په ليدو بيا ټوله ژوي په خندا شول. آس د خندا له زوره لوټکې وهلې او د او بو زمري بيا له خندا له زوره چکچکې کولې ، د زرافې ګوله په ستوني کې بنده شوه او سترګې يې راوتلي وې او چونګښې ډوډۍ په ساه وواهله په دې وخت کې خر را ننوت او هک پک پاته شو نه پوهيده چې لومړې وخاندي او که خبره وپوښتي خو دا يې غوره وګڼله چې لومړې وخاندي او هغه و چې خر هم د خندا له زوره لوټکې پيل کړې نورو ژويو چې د خره لوټکې وليدلې لا يې خندا زور واخيست .ګيدړې خپله لکۍ وښوروله او ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

-هغه هلکان مو لیدلي چې انجونو ته خپله لکۍ ښوروي هیڅ چا ونه خندله خو خره بیا لوټکي کړي د یوي اوږدې خنداوروسته یې په خندا خندا وویل:
دا څکه هلکانوکوڅۍ پرېښي او انجونو سرونه خربیلي دي! یو وار بیا ټول ژوي بیله خره په خندا شول او خره چې خپله د خندا ونډه بشپړه کړي وه نو خوراک یې پیل کړ خندا هغه وخت بیا زور واخیست چې خره هغه خواړه چې چونګښې هغه په ساه وهلي وه په مزه مزه بېله پوښتنې خوړل پیل کړل. چا د خندا له زوره لوټکي وهلې او چا خپلې بډوډي ټینګې نیولي وې. خو پیل لارغه لارغه (وقفه یې توګه) خندل څکه بواسیر یې درلود او زمري یوازي موسکا کوله څکه په دې ورستیو وختونو کې دزړه په ناروغي اخته شوي وو او ویرېدې چې خداي نا خواسته سکته ونه کړي .
سورلنډي(شغال) هم لږ خندل څکه هغه سوزاک شوي وو او پیلمرغ ته دډیري خندا ټوخی ورغلی وو ،شرمښکی د ډیري خندا ځان لوند کړی وو ،پسه ته د ډیري خندا ژړا ورغلي وه او زار زار یې ژړل ،زرافه مرض خرابه کړي وه خپله غاړه یې د مځکې او چت سره جنګوله خو اوښ بیا خپله غاړه ښي او کیڼي لوري له مځکي واهله او پیشو له ویري ژر بهر ووتله. چې امنیت راغي. خره د ډیره خوراک څخه یو لوړ ټیغ ویست چې په اوریدو یې یو وار بیا د خندا انګازی د سرکس فضا ولړزول بیا لوټکي او پورته غورځیدل پیل شوه په دې ترځ کې دوې کاسې او درې ګیلاسونه مات شول .چا بډوډي ټینګ نیولي وه ، چا په خوله چا په زړه او چا تر شا لاس نیولی وو. پیلمرغ وټوخل او په لوړ ږغ یې وویل:
- شرم وکړي تاسو هم لکه ځیني انسانان د ناستي پاستي ادب هیر کړي دي د ګاونډي د جوړ او ناجوړ خیال نه ساتي هرهر خاندی ، ټول چوپ شول خو خره چې تر اوسه چوپ وو یو وار بیا کټ کټ په خندا شو. پیلمرغ په غوسه ورته وویل :ته خو بیخي په شرم نه پوهیږي زه ستا ډیر خویونه انساني ګڼم
لکه په اور چې اوبه واچوې خر چوپ شو څکه دا خبره په ژویو کې ډیر بد ګڼل کیدل.
تاووس چې د خندا له زوره یې ځان ببر کړی وو وریږدیدی او ځان یې را ټول کړ او ویې ویل:
موږ ته دا خویونه د سرکس امر را زده کړي دي چې د انسانانو کړه وړه تر سره کړو چې انسانان پرې وخاندي خو ځینو انسانانو ته د ژویو کړه وړه چا ورزده کړي دي ؟
پینګوین چې سینه سینه کیدی کرار د راز په ټوګه یې دېخوا هاخوا وکتله او ټولو ته یې اشاره وکړه چې ده ته ور وړاندي شي او ورویې وویل:
-اوریدلي مې دي چې د امازون په ځنګلونو کې ژویو د خپلي خوشالۍ د پاره یو بیخ کس جوړ کړی او هلته انسانانو ته د ژویو کړه وړه ور زده کوي چې ژوي وخندوي!
ژویو یو بل ته سره وکتل او پینګوین ګوته په چولې خوله ونیوله او د تېښ په ویلوسره خپلو ځایونو ته خپاره شول.
د دې نه وروسته دسرکس ژویو د هغه انسانانو په لیدو چې له یو بل نه اوریدل او خبرې به یې کولې ، بې سته او اجازي به په خوړو شول ، په څلوروبه رهي وه ،په ژوند کې به یې رښتیا نه ویل او ویل به یې زما د درواغو نه بد راځي. په لوړ ږغ به یې خبرې کولې...
نو د تېښ په ویلو به یې نورو ژویو ته په پسخند ویل:
- امازون(یاني له امازون څخه را غلی دی)
هغه بل به ښه ور ته وکتل نو د تایید په ټوګه به یې ځواب ورکړ :
پوه شوم امازون!

لندن۱۳۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما ولاکه زده کيږي

دوه تنه چې تر اوږدې لمني لاندي يې پايڅې نه ښکاريدې تا به ويل چې بيخي يې پرتوګونه نه دي اغوستي اود غوړو اوږدو څڼو له منځه يې په رنجو توري سترګې سمي نه ښکاريدې د چوټو ونډې (تسمې) يې خلاصي وې اوله نشې ځنګيدل په يوه سلا کومنداني ته ننوتل او نيغ نيغ ودريدل

کومندان صيب چې پر دوو ګوټو چلم ته ناست و و او چرس يې تاوول او خمار وو په ډير ربړ يې د سترګو له کونجو نه وکتل ، راغلو دو تنو چې بې حرکته ولاړ وو پښې له مځکې ووهلې او سلام صيب په ويلو سره يې د ښي لاسونوشاوي پر تندي ونيولي (د عسکري سلام په څير)

دي سلامي بولندوي(کومندان) صيب ته خورا خوند ورکړ نو د زړه له کومي يې له خولې ووتل:

ښه راغلاست! تاسو مي اوس جګتورنان کړاست بله مياشت مو هغه بل شی کوم چې زما يې ولاکه نوم زده کيږي!

ولاړو جګتورنانو په يوه ږغ وويل:

خدای دي غم مه راکوه باداره!

دواړو په خوشالۍ له کومنداني ووتل او نورو انډيوالانو ته يې ويل:

موږ جګتورنان شو او بله مياشت هغه بل شي کيږو زياته.

او بې ډوله په نڅاه شول

کندهار ۱۹۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړاندوینه

له نویو کمپوټري وسیلو سره د جرایمو د مخنیوي تر نامه لاندي ۱۵۴ هیوادو د پولیسو نړیوال کنفرانس د چورلند په مرکز ډاکو اباد کې جوړ شو او په دې چې د کوم هیواد پولیس د غلا تر پیښې و روسته خبریږي خبرې اترې او تجربې سره ردوبدل کېدې داسي هیوادونه هم وو چې د پولیسو بودجه د غلو له خوا ورکیده او داسي هیوادونه هم وو چې یو کال وروسته په سلسله مراتب په غلا خبریدل . خو پېنځه هیوادونه په رومبي لیکه راغلل یو یې روس وو چې د غلا د پیښې څخه دوې ورځي او دوه ګړۍ او یوه دقیقه وروسته خبریدل ، بل امریکا وه چې شل دقیقې او دوې ثانیې وروسته خبریدل دریم هیواد جرمني و چې لس دقیقې او شل ثانیې وروسته خبریدل او څلورم جاپان چې د پېښې وروسته سمدستي خبریدل خو دی پر مخ تګ ته چې د پاکستان پولیس درې ورځي مخکې نه یوازي د غلا له پېښې څخه خبر وو بلکي د غلا ارزښت او وخت هم ورته څرګند وو ټول هک پک کړل او دایې لوی پر مختګ وګڼه نو د کنفرانس لومړی افتخاري مدال یې و پاکستاني پلیسو ته ورکړ

کراچي ۱۹۹۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځغاستې ملي سيالي

د کراچي له سهراب ګوټ څخه ترمهاجر کمپ پوري د پينځه سوه کيلو متري له خنډ ه سره د ځغاستې يوه سيالۍ وه.

ږومبی تن يو افغان و چې له ډيرو منډو په خولولوند خېښت و او سا يې له سترړيا بنده بنده کيده په ترس او لرز يې وويل:

(کيسه بر را پسې دی) تر ټاکلي ليکې تير شو ږومبی دريځ يې وګټه.

خلکو او د لوبې مينه والو په چکچکو د هغه هرکلی وکړ. لس- پنځلس ثانيې وروسته يو کيسه بر په داسي حال کې چې يو وار وار يې تر شا هم کتله په وارختايې ويل: پوليس را پسې دی او ما لا دستلاپ نه دی کړی په ويلو له ټاکلي ليکې تير شو او دويم پوړ (مقام) يې وګټه.

حاضرينو په چکچکو بدرګه کړ . اود دربيم اتل لپاره يې سترګې سړک ته نيولي وې چې يو پوليس ليکې ته راورسيد(چاي پاني دو) په ويلو له ليکې تير شو د لوبې مينه وال هم د دربيم ګډون کوونکي په ليدو د ځغاستې په سيالۍ کې و ر ګډ شول

کراچي ۱۹۹۷ ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

تک ډم ډم تک ...

سلام جان ټوله ورځ له دې دوتره(دفتر) هغه دوتر ته ، له دې وزارت نه هغه وزارت ته ، له دې کوڅې هغې بلې کوڅې ته ډول(ډوهل) پر غاړه او لرګی په لاس ګرځېده را ګرځېده خو هیچا د ډول ږغ ترې نه وو اوریدلی...

هر دوتر ته چې ورشي د مامورینو خولې له خوشالۍ ویتي پاته شي چې وړیا میله ده.

خو سلام جان دېخوا هاخوا وګوري سر وښوروي او ببله دې چې لرګی ډول ته وروړي ، تندی یې کونځې کونځي شي او په غوسه له هغه دوتره راووځي او په بېړه بل دوتر ته ورشي له هغه هم همداسې بل ته...

د دوترو خلک هم د ډول د ږغ په ارمان کې پرېږدي. زه چې ډېر د اتڼ شوقي یم ، نوکله چې سلام جان ووینم و اتڼ ته مې هوا وشي اوبې اختیاره مې ورېږ په ښوریدو شي ، خو هغه ډول نه وهي

. نن مي سل زړونه یو کړل او پوښتنه مې ځیني وکړه:

- سلام جانه! دا ډول ولې نه ږغوې ؟

سلام جان سترګې چوخې او تندی ګونځې کړ

او د یوه ستر راز په څیر یې ورو راته وویل:

- دا ډول هغه وخت وهم چې کار د کاروړ(اهل) ته وسپارل شي!

ما ترې په تعجب وپوښتل:

- ولې اوس کار د کار وړ ته نه دی سپارل شوی ؟

سلام جان ورو خپله خوله زما غوږ ته را نږدې کړه په داسې حال کې چې لاس یې د خولې له پاسه نیولی وو او سترګې یې ردې ردې راوتلې وې ، دېخوا هاخوا ته یې په څیر څیر کتل ،په وزن سره وویل:

بیسواده پر خوکیو قرعه کشي کا
باسواده له بیکاري روز مزدوري کا
توپک سالاران د خلکو هدایت کا
پوهان له مجبوریت هجرت کا
ما په خوله ورسره د ډول نغمه واهله او سر مې ورسره ښوراوه:

تک ډم ډم تک ، ډم ډم تک ،ډم ډم تک ډم ډم....

لندن ۱۹۹۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

کشتي کج

د پړانګ او ملخ تر منځ د کج غيږه نيولو و روستی وار (رونډ) پيل شو ټولو دا سوچ کاوه چې پړانګ ګټونکی دی نو له هم دې کبله به د پړانګ په هر غورځنګ د چکچکو ږغونه فضا ډکه کړه . پړانګ چې بړا(حريف) يې ډير ناتوانه ګڼه نو پر له پسې ټوپونه يې په ملخ پسې وهل چې ژر يې تر پښولاندي کړي . پړانګ دومره ټوپونه ووهل چې له ستړيا نه ستونې ستغ اوږد اوږد وغځيد.

ملخ هم ټوپ کړل او پر تندي يې کيناست او د اتلانو جام يې وګټه .ځکه يو ټوپ يې پر سول (عقل) برابر سم او بې ښاځ(غرورّ) وواهه

لندن۱۹۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوش خدمتي

يو ښکلي ځوان افغان د ختيزو او لويديزو هيوادو له ځوانانو څخه د ښکلا او ميړانې سيالۍ وګټله خويو پنجابي دغه سيالۍ له دي افغان ځوان څخه وګټله.

دا څرنګه ؟

ځکه وروستي حکم (ريفري) په پاکستان کې اوسېدلی يو افغان رهبر وو.

کندهار١٩٩٦

(c) ketabton.com: The Digital Library

مننه

ښوروا ورو وپېټا ته چې د میلمنو په وړاندې یې مرستې ته راغلی وو وویل:

مننه!

پېټاېو په یوه ترخه او شکمنه موسکا ځواب ورکړ:

هو ولا!

که د انسانانو له قصاب څخه وپوښتې چې ته هم ښه سړی یې همداسې نه ده ؟

هغه هرو مرو د پېټاېو ځواب ورکوي

هو ولا! د انسان خدمت فرض دی (په خندا ډوله موسکا)

لندن ۱۹۹۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنچر مين

طالب:ولي دي ړيره خرېيلي ده ؟

لاروی: صيب زه پنچر مين يم

طالب: وبښه ،

خو اوس هغوی پوهيږي پام وکه چې بې مين دي نه کړی!

کندهار۱۹۹۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

توپکیان

یو چرسي بل ته په خندا خندا او خوشالۍ زیری ورکړ:

هغه دي بیا توپکیان راغلل!!!

دویم چرسي له خوشالۍ په ترپکو شو او ناري یې کړې:

وا وا د مور شیدې کندهار اوس کندهار شو

لندن ۱۹۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

وزې ته ښکنځل وکړه!

دلته ملا د حجرې مخې ته ولاړ وو او ډول وهونکی ته يې بد او رد ويل. هلته يو مسافر ناست و او شلومبې اووچه ډوډۍ يې خوړل او په دې چورت کې و چې هر چيري چې ورشم همدا شلومبې دي ، تروې دي ، شناوې...

مسافر په عالمانه توګه ملا ته وويل:

-ملاصيب! ډول والا ته څه مه وايه وزې ته ښکنځل کوه که دا نه واى دنيا به سمه واى!

نه به ډول واى ،نه به شلومبې واى

اوس بايد وزې ته ښکنځل وکړو :چا يې ډول ، چا يې شلومبې ، چا يې ږيره ، چا يې غولانځه او چا يې لا لکۍ ټينګه نيولې ده

کندهار١٩٩٧

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا بي بي سي لندن دی!

د چونګښو په یوه ډنډ کې آوازه خپره شوه چې د مار او موش خرما تر منځ جګړه شوې ده او په ترځ کې یې تور مار مړ شوی دی. د دې آوازې په رسیدو سره په ډنډ کې اتڼونه ، نڅاه ګانې پیل شوې . نجونو او ښځو لاسونه او پښې په نکریزو سره کړه او ټولو لکه اختر چې وې نوې کالي واغوستل او یو بل ته یې تبریکي ویل پیل شوه ځکه له تور مار نه چونګښې ډیرې په تنګ وې او هره ورځ به یې دوه — درې ژوندی تیرولې ،نو د مشرانو د مشورې په اساس موشخرما ته سوغاتونه برابر شول او څو چونګښو ته دنده ورکړل شوه ، هغو دا ډالۍ پر سرو واخېستې او له ډم او ډول سره لکه ورا چې د ناوې پسې ځي د موشخرما د غار خواته رهي شول د موشخرما وه غار ته له رسیدو سره سم
د ژوندی دې وي زموږ ټولمنلي درناب موشخرما !
کامیابه او سر لوړه دې وي موشخرما!
مړ او ورک دې وي تک تور مار!
نارې او شعارونه یو د بل پسې په انقلابي ولولو بدرګه کېدې ، خو له غاره د موش خرما پر ځای تک تور مار راووت او د غار مخې ته یې لټکه(کفچه) ووهله.
د مار په لیدو چونګښې لږ وارختا او تر شا شوې ، یوه ځوانه چونګښه چې د آزادو رسنیو د قانون په ارزښت ښه پوه وه لږ څه مار ته نژدې شوه او ویې ویل:
داسي آوازې دي او ډیرو رادیو ګانو یې هم پخلی کړې چې په جنګ کې ته که موشخرما مړ شوی یاست! نو هغه چې مړ شوی دی هغه خو به تاسو نه یاست ؟
نورو چونګښو خپل دوه غوږونه دوه سوه کړي وو او په شکمنو سترګو یې یو بل ته کتل او دګوندي تور مار مړ وي دعاو ي یې کولې. خو تور مار نارمې (سر ټنبه ګې) کوله او هم دا یې ویل:
- ما موشخرما مړه کړه!
دوه — درې نورې چونګښې د شاهدانو په توګه را مخې ته شوې ، هغوی شاهدي ورکړه چې بي بي سي هم دا خبر تایید کړی دی ، نو څرنګه وایې چې ته نه یې مړ!؟
یوې پېغلې احساساتې چونګښې نارې کړې : نوهرو مرو مار مړ دی !
یوه بله سپین سرې چونګښې کرار مار ته نژدې شوه او په شک سره یې مار ته ځیر ځیر وکتل او په اسویلې سره یې وپوښتل:

— رښتیا ووایه ! موږ ستا اوریدلي دي ؟ په زاریو او ننواتو یې ما ر ته و ژړل:

— ګوره موږ ستا اوریدلي دي !

مار له ډیرې غوسې پښهار شواو په غوسه یې سر له مځکې وواهه . مار چې سر راپورته کړ هغه نژدې چونګښو ضعف کړي وو او نوری په منډه وې . یوه زړه چونګښه چې نشه وه په سختې سره یې خپلې ستر ګې پرانیستې او ویې ویل:
- ما چې په عمر در واغ نه دې ویلي قسم خورم چې ته مړ یې ولا...!
ددې رښتیا ویونکي چونګښې په قسم سره د تښتیدولو چونګښو زړونه ډاډه شول او بیرته راستنې شوې د ښسده شوو چونګښو پر مخونو یې اوبه وشیندلې او بیا یې سنګر ونیوی . مار له دوی د سنګر نیولو نه لږ وارختا شو نری خولې یې پر تندي را ماتې شوې او په ژراند ږغ یې وویل :
- لکه چې ما نه وینی ؟
یوې متقاعدي وزیري چونګښې له لیري نه ږغ کړل:
ته ښه سوچ وکړه ګوره ته به مړ یې موږ ستا اقرار غواړو !
تور مار له غوسې تک سور شوی وو غوښتل یې دا پخوانی وزیره ژوندی تیره کړي خو د بهرنیو خبریالانو په لیدو چې سند پرې ونه مومي چې ګواکې دی پر چونګښو زیاتی کوي ،نو تر دې کاره تیر شو ،چې د مجرمینو نړیوالي محکمې ته یې ور ونه پیژني. په اخیر کې یوې ډلې چونګښو د دریو سره غزلي ویلې :
الله شاکوکو جان موږ ستا اوریدلي دي که یې مني که یې نه مني ؟ ....
او اوقیان د فیصلې له پاره مخې ته ولاړ وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه بله چونګښه مار ته نژدې شوه هغې غوښتل تور مار د مړ شوي مار له عکس سره پرتله کړي خو دا هم په ناپامي کې د مار لخوا تیره شوه دا هم چا ونه لیده

نوري چونګښې په خپل منځ کې په خبرو اخته وې چا ویل مړ دی! چا ویل نه دی مړ! چا ، چا بیا ویل که مړ دی نو دا بیا څوک دی !

د یو بل د بسیاینې په پار چا قسمونه اخېستل او چا لاسونه ښورول او شرطونه یې تړل. یوه کورناستې چونګښه چې د بلې چونګښې پر وړه سپره وه په لوړ ږغ یې نارې وهلې:

دا مار نه دی ! که مار وای تر اوسه به یې دوه درې ژوندی تیري کړی وای!؟

د مار چې خیټه یې پړسیدلې وه د خبر یالانو د ډار نه ونې ته وخت او ځان یې تر ونې را تاو کړ یو تریخ ټیغ یې ویست.

هغه ځواني خبریالې چې دا د بي بي سي خبر یې ثبت کړی وو راغله پر چونګښو خوشالۍ ګډه شوه او په یوه سوبناکه ږغ یې نارې کړې :

ودي لیدل زموږ دي نه منل نو ر نو سر تمبه کې پریږده او ومنه چې مړ یې!!!!

چونګښو د ګوتنیوي په توګه یو بل ته لاسونه ښورول ګوره مړ دی خو دی ناځوانه یې نه مني

ځوانه چونګښه چې ډیره راپاریدلې وه نو په بېړه یې ټیپ ولګاوه:

دا بي بي سي لندن دی ، نړۍ دا وخت

.. د زاړه ډم تر څنګ د موشخرما او تور مار تر منځ یوه خونړۍ جګړه پرون په دو بجو پیل شوه چې په هغه کې سپکې او درنې وسلې وکاریدلې او تر درو ګریو وروسته تور مار ترې تم او موشخرما یې غار په خپله ولکه کې راوست دا خبرآزادو منابعو هم تایید کړي دي. ټولو چکچکې وکړې او په یوه ږغ یې وویل:

-ودي لیدل!!!!

تور مار چې دا خبر واورید نو بسیا شو او پر مځکه ولویید ،

نورو چونګښو د ځواني چونګښې شعارونه په یوه ږغ بدرګه کاوه:

ژوندي دي وي بي بي سي !

-ژوندي دي وي

او د موش خرما ډالۍ یې د بي بي سي هغه خبر نګار ته چې دا خبر یې ورکړی وو واستوله

لندن۱۹۹۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکروره تاريخي بد نامي

سورلنډی (چغال) په ډیره ربړ سره یوه چرګه له کلي وتښتوله د کور میرمني واویلا جوړه کړه:

هو خلکو! سورلنډي زما یو نیم چارک د هګۍ چرګه یوړه...

هلۍ د خدای دپاره...

سورلنډي چې دا نارې سورې واوریدې نو و درید چرګه یې دوه —درې واري کښته پورته کړه خو هغه تر یو پاو زیاته نه وه او چې یې ښه ورته وکتل د هګۍ چرګه هم نه وه بلکې چرګ و نو په پښېماني بیرته را ستون او کلي خوا ته رهي شو په لارکې ګیدړې ولید او رغ یې پر وکړ:

څه تښته! د کلي خلک در پسې راوتلي دي. سورلنډي ورته وویل:

ته دا نارې او دا ښکروره درواغ نه اورې وایي یو چارک د هګیو چرګه...

لاهولا...دا دومره غټ د رواغ. زه څم دا دوراغ رسوا کوم !

دګیدړې د دي کوچنۍ چرګ په لیدو نارې د خولې وبهیدلې په مات مخي یې سورلنډي ته وویل:

ساده سریه!ما ته یې راکړه! زما په دوه چارکه منلې ده!

سورلنډي چرګه ګیدړې ته ورکړه او له توره یې ځان وژغوره او په ارامه وجدان د خپل غار خواته رهي شو او ګیدړې هم نیم پاو چرګ په دوه چارکه ومانه خو د کور د میرمني یو یونیم چارک او د سورلنډي دوه چارکه احسان ور باندي شو. ګیدړې لا په خوړو پیل نه و کړی چې د کلي سپیان پسې راورسیدل او دومره یې وځغلوله چې درې چارکه یې تول(وزن) بایلی.

لندن ۲۰۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

چونګ چونګ د فتح خان

د نړۍ د فیلوسفانو لومړۍ کنګره په ۱۹۹۸ کال کښې د ماکانا په تاریخي ښار کې جوړه شوه چې له ۱۴۵ هیوادونه ۱۹۵ تنو فیلوسفانو په کې ګډون کړي وو.

لومړی ځل وو چې داسې یوه ارزښتمنه غونډه جوړ ېده چې هلته د پوهې خبري کېدې د دې کنګرې بهیر د سپوږمکۍ له خوا خپریده خو خلک د کریکټ د لوبې پر کتلو بوخت ول چې پر همدغه ورځ پیل کېده . په پرانېستوني (افتتاحه) غونډې کې د ماکاتا د شار د خاورو ځځلو (تنظیفاتو) رییس چې فیلوسفانه څیره یې درلوده د لوړو چارواکوپه استازیتوب داسې وویل:

ډېرو پوهو او د چینې د اوبو په څیر پاکو فیلوسفانو! زموږ د ښه آب و هوا ښار ته ښه راغلاست. زه د چارواکو په استازي چې تول د کریکټ لوبې ته تللي او زه یې چې د کریکټ سخت لیوال یم جبراً ستاسو چوپړ ته را لیږلی یم نو دا غونډه رسماً پیل وم.

د خاورو ځځلو رییس د لږ چورت وروسته داسي اوږده کړه:

که څه هم موږ هم فیلوسفان یو او ډېر ښه د عقل کارونه مو کړي دي لکه د کانالیزسیون او ښباک اوبوتر مځکې لاندي کانالونه سره ګډ شوي دي موږ له عقله کار واخېست او خلک مو په دې اوبو چې له ویتامینو ډکې دي روږدي (اموخته) کړي دي . فیلوسفانوژر د اوبو ګېلاسونه له مخي لیري کړل

بیایې له لږ چورت وروسته سره وګراوه او داسي یې پسې وغځوله:

د ښار د ځځلو ټولول ډېر سخت او ګران کار دی خو اوس مو د عقل نه کار اخیستی دی.پرېږدو چې هغه وچ شي بیا باد هغه په ناپایه تشیال(لایتناهي فضا) کښې ورکوي (دبریالیتوب یوه خندا یې وکړه)

فیلوسفانوژر ماسکونه راویستله او خپلي پز ې یې وتړلې..

بیا یې لږ چورت وواهه او سر یې وګراوه او زیاته یې کړه موږ د عقل نه کار اخېستی دی د پکوالي درمل مو پیدا کړی:

فیلوسفانوژرقلمونه او کتابچې راویستلې.

. دي خولی ته ګورئ! د خولی په سر کولوسره هیڅ څوک نه پوهیږي چې څوک پک او څوک نه دی او بیایې یوه سوبمنه خندا وکړه

فیلوسفانوژرقلمونه او کتابچې له مخي لیری کړل

دی لا په همدي چورت کې وو او سر یې لا نه وو ګرولی چې د فیلوسفانو د پر له پسې چکچکو په زور یې د خطابې له میزه لیري کړ. یو فیلسوف جګ شو او د اعتراض په توګه یې وویل:

کوربه هیواد دا حق نه لري زموږ وخت په اوتو بوتو ضایع کړي نورو هم دا وړاندیز ورسره تایید کړی.

د پرانیستوني وینا وروسته د کنګرې اصلي موضوع د فیلوسفانو د د کار پایله(نتجه) وه چې هریوه دیرش-پنځوس کاله زیار ګاللی ملي او نړیوالي پېښې یې څیرلي او سپړلي او د عقل خبرې یې را بر سیره کړي دي نړیوالو ته د دي خبرو ډاګیزول او رسول پیل کړل.

لومړی د امریکا لوی فیلسوف مستر جان مان براون بلک وایت داسي خپله د عقل خبره وکړه :

خپل راز پټ ساته چا ته یې مه وایه !

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ د عقل خبره را برسيره (کشف) کړی اوعملي کړي ده موږ هر ډول درسته(سلاح) جوړه کړې ده. خو چا ته نه وايو. خو نور هيوادونه که د يوې ګولۍ (مرمۍ) انځور هم وباسي بيا نو احساساتي شي او اعلان وکړي ! موږ پيدا کړه!

او هغه دی چې د ملګرو مليتو د امنيت شورا استازي هغه هيواد د ستوني نيسي او انځو ر يې ور خيري کوي.

د امريکا د فيلسوف خبره په چکچکو سره تاييد شوه ، تر چکچکو و روسته ږغونه اويوه همهمه پورته شوه. د غونډې مشر وپوښتل :

څوک څه ويل غواړي ؟

يو فيلسوف وړانديز وکړ چې ښاغلي فيلسوفان بايد يوازي خپله د عقل خبره وکړي سرباري څرګندونو ته اړتيا نشته ځکه دلته ټول فيلسوفان دي په موخه(مقصد) پوهيږي نورو هم دا وړانديز تاييد کړ.

بيا د روس فيلسوف پروفيسر يوري ګوري يوف پوف د تربيون شا ته راغی او خپل د عقل خبره يې چې د ديرشو کلنو ازموښتنو په پايله کې يې را برسيره کړی وه داسي څرګنده کړه:

يا خپله زمری شه کنه يا د بل د درګا سپی شه کنه!

د پوف د عقل خبره په پر له پسې چکچکو تاييد شوه.

او وا وا بيا ووايه ږغونه پورته کيده

نو پوف بيرته دا د عقل خبره را غبرګه کړه:

خپله زمری شه کنه يا د بل د درګا سپی شه کنه!

په دويمه ورځ لومړی د جاپان فيلسوف پروفيسر پان چوانګ چان چين چونګ خپل د عقل خبره داسي څرګنده کړه :

و چا ته په هغه سترګو ګوره چې دی نه چې وو!

موږ اوس هغه پخوانی...

په پر پسې چکچکو يې په سر باري څرکندونو څخه يې لاس پر سرکړ او ټولو دا د عقل خبره په يو ږغ را غبرګه کړه :

و هرچا ته په هغه سترګو ګوره چې دی نه چې وو.

وروسته د جرمني پروفيسر هال بال شميت کورت د تربيون شا ته ودريد او تر يو لنډ ټوخي وروسته يې خپل د عقل خبره داسي څرګنده کړه :

هر کار چې کوې مزد يې لومړی جوت کړه!

په واه واه سره دا د عقل خبره تاييد شوه

د فيلوسفانو مخي ته ځانګړي غوزی (مخصوصي ګوشکۍ) چې د هر وينا وال خبرې يې په هم مهاله په ۱۵۴ ژوبو ژباړلې . خوځنګه چې ټول سره پوهيدل د غوږويو نه دومره کار نه اخيستل کيده.

د نورو هيوادو فيلوسفانو هم په خپل وار سره د عقل خبرې وکړې چې دومره په زړه پوري نه وې. چې همدا د افغانستان د فيلسوف وار راورسېد هغه د خپل نوم په اوږدولو بوخت وو چې نور فيلوسفان ګومان ونه کړي چې دی فيلسوف نه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو الحاج پروفیسر پوهاند ډاکټر ماستر جان ګل جان خان قربان صاحب اخوند بیکار د پنځوس کلنو را بر سیره (کشف) کړي خبره داسې د نړیوالو غوږوته ورسوله:

که غواړې چې هوسا شې اې افغانه! کور پسې ایله که . وطن پسې ایله که ،خپلوان پسې ایله که ، د کور سامان پسې ایله که ، چې څه لرې هغه ټول شیان پسې ایله که ، چونګ چونګ د فتح خان (دا ټوله یې په یوه سا داسې وویل چې سترګې یې رډې راوتلي وې).

د چکچکو داسې پر له پسې شړپ شو تا به ویل چې سواره نظام پوځیان را روان دي او ټول فیلوسفان ودریدل او خپلې خولۍ یې پورته غورځولې:

واه واه بیایې ووایه!

که غواړي ...

بیا ټول فیلوسفان نیغ ودریدل او لکه کورس تکراروله یې

که غواړي ...

د جاپان ،چین او کوریا فیلوسفان د چونګ چونګ په اوریدو په نڅاه شول او خپلې ملي نڅاه ګانې یې پیل کړې

دا د عقل خبره دټولو له خوا تایید او تر ټولو غوره د عقل خبره وګڼل شوه او جایزه یې و ګټله .

په جایزه کې پروفیسر بیکار ته د امریکا ویزه او د الوتکې ټکټ ورکول شو

پروفیسر بیکارچې د اجنت له شره خلاص شوی وو په داسې حال کې چې د سترګو یې د خوشالۍ اوښکې تویيدې ویزه او ټکټ مچ کړه او ښېله دې چې د غونډې تر پایه پاته شي خپل لاسي بکس یې واخېست او د لاسو په ښورولو په منډه د بای بای په ویلو له تالاره ووت او سیده هوایي ډګر ته ولاړ.

اندونشیا۱۹۹۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمپوتري مشر

د راديو ځخه مې د نوي حکومت د غړو لو نوي مشر نومونه واوريدل او په همدې سوچونو کې ويده شوم او ګډوډ خوب مې وليد چې يو ستانه(روحاني) شخصيت ته وايم چې ته دا زموږ د نوي کابينې وزيران پيژنې څرنګه خلک دي ؟

د تجارت راکړې ورکړې وزير څرنګه سړی دی ؟

هغه راته وويل: هغه يو لوی او مشهور قمار باز دی!

زما د خولې نه د هو! هښنده ږغ را پورته شو

دا د کورنيو چارو د کش او ګير وزير ؟

هغه يو نومور غل او قاچاقبر دی!

زما د خولې بيا د هو هښنده ږغ ووت.

او دا دماليې د چل او ول وزير ؟

هغه يو خراباتي سړی دی!

همداسې د نورو ټولو وزيرانو پوښتنه مې ځيني وکړه زما هوو ورسره روان وو په پای کې مې د نوی مشر په اړه پوښتنه ځينې وکړه.

ستانه سر وښوراوه . شونډې يې بوڅې کړې او راته يې وويل: دا نه پيژنم ، نه يې پلار څرګند دی نه يې هيواد.... په همدې وخت کې له خوبه راکښيناستم.

سبا ته نابړي د يوې مرکې لپاره د نوی مشر دوتر ورغلم او تر مرکې وروسته مې د خوب کيسه ورته وکړه او ورته مې وويل: چې ستانه راته ويل چې د ده کام او نه پلار او نه هيواد څرګند دي .

مشر په بې توپيري سره موسکی شو او په يوه ترخه خندا يې وويل:

ږغ مه لره رښتيا وايي ټوله په سياست کې را نه ولاړه ږغ مه لره اوس ماته هم ولاکه څر ګند وي خو دومره پوهيږم چې چيف مې افغاني دی.

دا ځل زما د خولې په ويښه د هوو ږغ پورته شو خو ژر مې پرخوله لاس ونيوی.

لندن ۱۹۹۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټاپه

عجب زمانه وه پر بري ليکونو ، دپيلومونو ، سه پارچو ، نکاح ليکونو ... رنګارنګ توري ، سرې ا و زرغونې او شنې ټاپې لګول کېدې ان چې پوهنځی مو پای ته ورساوه پر بريليک يې سپينه ټاپه راوواهله ځکه د سپينې ټاپې رنګ لمر نه خرابوی او ډېر خوشاله وو ،خبر نه وو چې د زمان په تيريدو سره دا ټاپې بې ارزښته کيږي او ان دهغود پټيدو ځای به نه وی او ټولې پاکيږي نور نو اوس پر اسنادو ټاپې نه بلکې پر خلکو باندي وهل کيږي دا ټاپې د سلو کالو دينداره بې دينه کوي او د سلو کلو غل ښخه پير ، د دوښمن ښخه بادار ، له جته ښخه سردار جوړوي

دا اوسنۍ ټاپې په ريموت کنټروليږي يوازې کوف غواړي او چوف که يې نه منې زموږ کلي ته راشه مازي سر پورته که بيا د ټاپې وهل ګوره هر شی چې شوې او هر چيري چې ولاړې !؟

لندن١٩٩٨

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددغه دغه

ښاغلو راغلو!

زه له تاسو څخه مننه کوم چې پر ما مو باور وکړ اوزه مو په خپلو رایو خپل استازی وټاکلم . ما لکه مخکې چې ژمنه کړې وه اوس هم په خپله ژمنه ولاړ یم نور ستاسو بادوني ته اړتیا نه لرم .ما د کار پلان جوړ کړ تاسو دا زما اوږد او منظم پلان تر اوسه نه دی لیدلی خیر زه به دا خپل پلان نه یوازې تاسو ته ، بلکې کوچنیانو ، ښځو او زړو ته هم وروښیم

زه خپله دا وینا په دې نارو سره لنډوم:

ژوندی دې وي زما پلان

مړه دې وي ستاسو دوښمنان

زموږ د رییس کټ کټ همدا وینا وه خو تر هغو وییو (کلیمو) لاندې یې چې کرښه را کښل شوې ده (دغه) لوستل شوي دي

زه تاسو څخه دغه کوم چې پر ما مو دغه وکړ ....

(c) ketabton.com: The Digital Library

پام چونګښه مه یادوه!

سرور د خانو د میرمني پوښتنې ته ورغی چې دا ډیر مهال ناروغه وه او د خبرو په ترڅ کې یې خانو ته ورته وویل:

یاره خانو! اجملي دا دوې میاشتي مخکې ښار ته تللی وو هلته ښه ډانکټر جوړ شوی راغی ، وایي د کوم ډانکټري کورس یې ویلي دی ، لروین(دوربین) پر غاړه ، غټه توره بسته په لاس کې غټوویني سترګې یې (غټي کټه بیني) پر سترګو ،نازک سپین کفن یې اغوستی او عجب لاس یې دي په یوه اوونۍ کې ناروغ هاخوا یا دېخوا کوي .

ما خپله خواښې وروستله ، هغې ته یې داسې درمل و رکړه او ورته یې پر هیز هم ورکړ چې د درمل خوړولوپه وخت کې پام چې چونګښه په یاد نه کړي هغې هم لکه چې چونګښه په یاد کړې وه او هاخوا یې کړه .

دا داوس په پکو ډانکټرانو چه جوړه نه ده که ښه وی خپل پک سرونه دي جوړ کړي !

خانو چې په چورت کې تللی وو او له ځانه سره یې تکراروله :په یوه اوونۍ کې دي خوا یا هغه خوا

سرور و رته وویل:

څه درواغ خو نه درته وایم ویې ازمایه اوبیا یې د راز په ټوګه ترې وپوشتل:

-رښتیا د کاله شاوخوا مو چونګښې شته ؟

خانو په خوشالۍ ورته وویل :

هو ډیري دي !

سرور په ټینګار ورته وویل:

- که زما مني ژر یې وروله!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډانکټر صایب کوتان(قوطان)

دړ غ د ککړ تیا (شوربکت) ښخه د ژغورو دپاره د ځنګله ټولنې د ګاونډیانو په سلا او مشوره و پتیله چې د ګاونډي ځنګله له ازمېښتونو ښخه د ګټې اخیستنې لپاره ډانکټر صایب کوتان ته بلنه ورکړي

ډانکټر کوتان چې ځانګړي غوړي یې د قبض ، چاغیښت ، هډوکو درد. د ږغ د ککړتیا د مخنیوي لپاره را بر سیره (کشف) کړي وه او د غوړولو د ځای له پلوه یې بیلا بیلې ګټې درلودې ، له خپلو نظریاتو سره راغی.

د نوموړي ځنګله به رسنیو (مطبوعاتو) کې د دې ځانګړو غوړو اعلانونه پیل شول او د ږغ د ټیټوالي له کبله د کتېه کولمې (مقعد) غوړول حتمي او اړین امر وګرځید ، او نه کارول یې لوي جرم او ګناه وګڼل شول د دغو نویو را بر سیره شوي غوړو د ږغ په جګوالي او ټیټوالي کې په رښتیا چې اعجاز کاوه .ځکه د کتېه کولمې په غوړولو هغه ځواک (قوه) چې د ږغ د ایستلو لپاره اړینه وه چې ږغ خپل اصلي غاړه او تون له حنجرې وباسي ضایع کیده. لومړي ددغه کار ازمېښت پر یو کولنګي چرګ چې ډیر بې وخته اذانونه یې کوله وشو د چرګ دکتېه کولمې ترغوړولو و روسته چرګ غاړه پورته کړه چې اذان وکړي خو دا قوه به یې له شا له خوا ضایع کیده او اواز یې له خنجرې نه ووت .

ټول ژوي اړ شول په دې فرمان کړه وکړي او خپلې کتېه کولمې په دې غوړو غوړ کړي او خپله منندوېې (فرمانبرداري) وښیې.

او هغه و چې په دې کار سره د زمرو غور په غول بدل شو.د خره هرهر په ال ال ، د مار پښهار په پښ پښ... بدل شول د هر ژوي د ژبې د بدلون سره د هغو ارو اصل هم ورک شول.

مخکې به نورو ژوي د زمري له غوره وېرېدل خو اوس یې وربادي د غول په اوریدو پوزخند واهه اوخندا یې پرې کوله. نور چا د زمري زور و ځواک او واکمني ، د پیلمرغ درایت او عقل مندي ،دپیل درنوالی ، د بلبل غزلبولي... ته ارزښت نه ورکاوه هر ژوي ځان ته نوي پښتوني(شجرې) او تاریخونه جوړ کړل نور نو پړانګانو هوسۍ نه شوه ښکارولای ، کربشا(سنجاب) غوزان نه شوای په خاورو کې پټولای ، سک لاهو د اوبو ډنډونه نه شو جوړولای او...

کرار کرار ځنګل په وچیدو شو او ګل ګل میرې او خپل سرې شول.

خو په ځنګل مینو ژوو هوډ وکړ چې ځنګل به بېرته جوړي. نو په توره شپه یې ډانکټر صیب کوتان سره له غوړو او نظریاتو له ځنګله نه ورک کړ او دا عادت یې هم ورسره ورک کړ. او دا عادت هم ورو ورو له ځناورو هیر شو.

یو زمری د یوې ډبرې شا ته پروت وو او یوموږک یې پر لکۍ غاښ ورولګوی له درده یې نابېره له خولې غور ووت ، دده دغور سره ټول موږکان له ځنګله نه وتښتیدل او ځنګل یې خوشي کړ ، بیرته بیدیا ته وتښتیدل. د مار د خولې بیرته پښهار راووت ،د خره له خولې هرهر...

جوړې شوې پښتونې (شجرې) ځیرې شوې او هر یو دخپل کار پسې روان شول.

خر چې د ښېتابې میز ته ولاړ وو او خپله عالمانه وینا یې وړاندې کوله میزیې پر شا کړ او خپل اصلي ځای ته یې یوور

بیرته جم او جوش جوړ شو د چرګانو هوهو ، د بلبلو چوچو ، د پیلانو بوهو اوریدل پیل شول .خو د دې لپاره چې دګاونډي ځنګله اړیکې له دې ځنګله سره ویجاړ نه شي بیا هم دا غوري یوازې د هغو چرګانو لپاره چې بې وخته اذانونه یې کوله او د هغو خرو لپاره چې د هرهر نه یې نه اوریدل کیږي چې خاندي که ژاړي. واردیدل او په نسخه ورکول کیدل.

لندن ۲۰۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

که زما منې کله کله ګډايي هم کوه!

تورک چې واده ته خبر وو ، پوره يوه ګړۍ په سره لمر کې ګاډۍ(بس) ته سترګې پر لار پاتي شو خو د بس ګاډۍ (سرويس) پته نه وه . تر لږ چورت وروسته يې له سره خولۍ ايسته کړه وښتان يې جږ پږ کړل د پتلون يوه پايڅه يې پورته او بله کښته کړه خولۍ يې کچکول کړه او دتم ځای خلکو ته يې په مات مخي په سندره کې ويل:

- بيچاره يم ناوخته کيږي واده ته نشم رسيدی د خداي په نامه د ټکسي کرايه خو راکړۍ ته نه نی نی ...

د خلکو غوږونو ته ورغله چې وايي :بيچاره يم واده مې نه دی کړی بې کاره يم مرسته وکړئ چې يو ټکسي رانيسم ته نه نی نی...

نو چا لس چا شل په خولۍ کې ورواچولې لا نيمايي خلکو ته نه وو رسيدلی چې د پيسو شمير ورته پوره څرګند شو نو پيسې يې جيب ته کړې . خولۍ يې بيرته سمه او پر سر کړه ، پايڅې يې سمی کړې د سرک د غاړې د موچي نه يې بورس واخېست بوټونه يې پرې پاليش کړه يو هـ فانتا يې پر سر پورته کړه او ټکسي ته يې لاس ورکړ او ولاړ.

د کيږده قدمونه ! (اهسته برو) پر مهال يو تن تورک ته نژدې شو او ورته يې په سا نيولی ږغ وويل:

ته هغه نه يې چې سوال دي کاوه ؟

تورک سرې سر تر پايه له نظر تير کړ د کرتی غوټو ته يې ښه ځير شو چې دوې يې شليدلې وې ، بوټونه يې په ختو لړلي وو شونډې يې وچی ښکاريدې داسې برېښيده چې ډوډۍ ترې خلاصه شوې وې ايله اهسته بروته را رسيدلی دی.

تورک کټ کټ وخندل په فيلوسفانه توګه يې ورته وويل:

اې ساده !زه پوهيدم که دا کار ونه کړم تا غوندي به نهار د آهسته برو په اوريدو تيز برو کيدم چې کور کې هم پياوه را نه خلاصه نه شي

کابل ۱۹۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټبر علیکم!

په جرستان کې ټبر او ټبر پالنه خپل لوړ ستونځ(اوج) ته رسیدلي وه د ټبر پوښتنه د سلام پر ځاي کاریدله چې دو کسه به سره مخامخ شول نو د لاس پر ځای به یې ورته وایه:

ټبرعلیکم!

(په کام څوک یې ؟په هغه کې بیا څوک یې ؟ په هغه کې بیا...؟)

(توری یم په هغه کې بیا برګ یم په هغه کې بیا خړ یم...)

که به یې کام سره نژدې راوخت نو لاسونه به یې سره وکړپوله او غیږ په غیږ به شول خو که توپیر پیدا شوی وای بیا نو بې شپیلک(ویسل) آزاده غېږ پیل کېده.

ګلو چې د یو ضروري کار دپاره جرستان ته تی نو خلکو ورته وویل پام کوه که چا پوښتنه درڅخه وکړه چې په کام څوک یې داسي یو څه ورته ووایه چې هغوی پوه نه شی کنه نو په بده بلا به واوړې.

ګلو د جرستان په لاره کې یو دوکان ته د څه اخېستلو لپاره تم شو دوکاندار د سلام پر ځای په مرموز ډول ترې وپوښتل: ټبرعلیکم!

ګلو هک پک پاته شوچې څه ووایي ترلږ چورت وروسته یې په داسې حال کې چې ژبه یې بنده بنده کیده زړه نا زړه وویل:

سیلاو ځی علیکم!

دوکاندار سر وښوراوه او د څه غوارې پوښتنه یې ترې وکړه څو تنه چې د دوکان مخې ته ناست وه او غوږونه یې بوخ نیولي وه بیرته په خپلو کارونو اخته شول ګلو هم یو ژوره سا وشړله سودا یې واخېستله او رهي شو یو کوچې چې هلته پروت وو او په پټوکې یې ځان نغښتی وو لکه لیونی نا ببر ه را جګ شواو لکه یې چې موندلي وي نارې کړې:

ودریږه چیري ځې!

پروښېرکال دي پلار زما دوه سوه وزې په لوړه شیله کې وړې وې او ته داسې خرامان خرامان روان یې را تاو شه راوړه تاوان

خلک له ځایو را جګ شو ل او د ګلو خواته لکه کرک چې نیسي کرار کرار را نژدې کیدله همدا چې په ګلو کړۍ (حلقه) تنګیده شور ماشور هم جګیده کرار کرار هوایې دزي هم پیل شوې او ورسره د خوشالۍ پټو وان هم ورسره پورته پورته غورځول کیدل.

خوار ګلو له شرمه په خولو کې ډوب و چې کوم خراب کار یې کړی دی چې د ده به نیولو دومره خوشالۍ جوړه شوه

یو سپین ږیري چې نوی د ډزو څخه خبر شوي ووراغی ګلو خوشاله شو چې هغه به یې د دې وحشانو نه خلاص کړی ګلوته چې لاسونه او پښې یې ټینګی تړل شوي وې ورنژدې شو .

ګلو خوشاله شو چې اوس به یې هغه د دې مصیبت نه خلاص کړی خو هغه لومړی د هغه پر مخ ورتو کړل او بیا یې وپوښتل:

څه پیښه ده ؟

دا سیلاو ځی علیکم دی ! هغه چې نیکه یې پروښېرکال زما دوه سوه پینځوس وزې په لوړه شیله کې یوړل! په یاد دي شول هو هغه چې زما دوه سوه وزې هم ور پسې وې !

(c) ketabton.com: The Digital Library

انساني سرکس

سپین ږیری یو وار بیا په نارو سورو شو

او ویل یې:

ما پریږدی چې ځان غازي کړم !

خو خلکو هغه ټینګ نیولی وو

اودګلو ګرد چارپیره اتڼ پیل شو

لندن ۲۰۰۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددرواغو بازار...

د لندن د کډوالۍ کارمندانو(ایمیګریشن) د ورځني چارو د اسانتیا لپاره د درواغو سنجولو ماشین د ساینس د کارپوهانو په مرسته په ډیر لوړ لګښت جوړ او نصب کړ خو د دې ماشین ګیج هیڅ کله له سرې لیکې څخه را کښته نه شو د دوی په خیال چې کار نه کوي نو یو بل ماشین یې د رښتیا ویلو د څرګندتیا لپاره جوړ او نصب کړ . یو افغاني رښتینی ډاکټر چې د دښمني له کبله کډوالي ته اړ ایستل شوی وو خپل د شلو کلنو د خواریو کور ، شتمني یې وپلورل ځان یې لندن ته راورسوه او دلته یې د رښتیا ویلو د ماشین کوټې ته بوت .ډاکټر چې پر پوه او علم یې باور درلود اود درواغو ویلو یې بد راتلل نو په خپله انترویو کې یې رښتیا وویل:

زه یو ډاکټر وم په روغتون کې مې کار کوی د دښمني له امله مې ژوند په خطر کې وو.....

د کډوالي کارمندانو په هېښتیا ترې وپوښتل:

یوازی ډاکټر وي بل کوم دولتي څوکۍ دي نه لرله ؟

کوم وزیر ، صدراعظم ، رییس جمهور یا باچا نه وې ؟

ډاکټر نه پوهیده چې دلته ټول راغلي کډوال لږ تر لږه دوه درې دوره باچاهي کړې ده . یا صدراعظمان وو

د ګډوالی کارمندانو بیا ترې وپوښتل:

لږ تر لږه کوم باچا کوم وزیر- مزیر...؟

ډاکټر د نه په ویلو سر وښوراوه

د کډوالي یو کارمند ډاکټر ته د دیپورت پاڼه ورکړه چې په هغه کې لیکل شوي وه:

موږ عادي ډاکټران . استادان نه منو د داسو خلکو په منلو سره به د کډوالو سیل را مات شي .موږ تر اوسه یوازي دیرش زره افغاني مهاجر منلي دي چې هر یوه یې لږ تر لږه یوه دوره باچاهي- ماچاهي یا صدراعظمي تیره کړې ده

د رښتیا ویلو ماشین ګیج هم هیڅ پورته نه شو نو هغه و چې هغه ماشین یې هم لکه خوار ډاکټر دیپورت کړ.

نو دا چې ولي دلته ځیني راغلي کډوال ډیر درواغ وایي دا ځکه د دوی د د رواغو خوند لیدلی دی او دا چې ولي ځیني ځانونه باچاهان ګڼي او لکه باچاهان برخورد کوی او نور خپل رعایا ګڼي دا ځکه چې د دوي کیسونه په پاچاهي منل شوي د ي.

لندن ۲۰۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویر مې زده کړ!

ددې لپاره چې د هیوادد نه پر مختک علت جوت شي نو یوه ټول پوښتنه (عمومي ریفرندم) اعلان شو چې جوت شي خلک په دې اړه خپل نظریات په لیکلي توګه ښاروالي ته ورولیږي. هر هغه چا چې ښه دلیل ولیکی د هغه عکس به د نوي چاپیدونکي یو لکي نوټ انځور کیږي په زرګونه دلیلونه ښاروالي ته راورسیدل چې ځیني یې دا دي :

- تلویزونونه لا ټول نه دي په دار شوي
- د نارینو حجاب نه دي سمبال شوي
- ډمانو ته په دولت کې ونډه نه ده ورکړ شوې
- کوخه ډب سپي په قدرت کې نه دي ګډ شوي
- ځوانان ټول نه دي مړه شوي
- پوهان ټول نه دي تبتیدلي
- سیاست کوونکو په کال کې هډو یو رښتیا هم نه دی ویلي
- رهبرانو خپل تاریخ سم نه دی لوستی
- ښه ته مو ښه اوبد ته مو بد نه دي ویلي
- دولتي څوکۍ د پښو د مېچ پر بنسټ (لمبر په اساس) نه دي ویشل شو
- ...

خو د مستري یو شاګرد دا جایره یووړه خو عکس یې چاپ نه شو ځکه نظام بدل شو

دي شاګرد لیکي وه چې استاذان شاګردان خپل نوکران ګڼي او بیا یې ورپسې زیاته کړي وه:

زه دا دیرش کاله له ویررینګ کار سره شاګرد یم دوکان جارو کوم ، سودا راوړم ، کټو پخوم ، لوښي مینځم ، چای دموم دا ټوله مې ښه زده کړي دي خو په ویررینګ نه پوهیږم ځکه کله چې د اصلي کار ځای راشي نو استاذ ما دیو بل کار پسې لیږي چې زده یې نه کړم له ما څخه د شاګرد په بیه د نوکر کار اخلي همدا لامل دی چې زه په ویر پوهیږم اورینګ مې نه دی زده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه او بد

چې ژوندي يې تر تا بد او چې مړ شوې له تا بل ښه نه شته—له وګړو له نظره

چې برحاله يې تر تا ښه چې منفک شوې تر تا بل بد نشته---د همکارانو له نظره

چې جره (مجرد) يې تر تا ښه چې کوروال شوې تر تا بد نشته ---له انجونو له نظره

چې پلار د بچو يې له تا نه بد که بې بچو يې له تا نه ښه نشته ---د کرايي دار له نظره

چې نرم خوی يې له تا ښه که تند خوی يې له تا بد نشته ---د ميرمني له نظره

که لکړه لرې له تا بد او که يې نه لرې له تا ښه نشته ---د سپو له نظره

چې ږيره پريږدي له تا بد او که يې خربيې له تا ښه نشته --- د ډمانو له نظره

چې شتمن يې له تا ښه او که غريب وې له تا بد نشته—د خپلوانو له نظره

که موټر لرې له تا ښه او که يې نه لرې له تا بد نشته--- د ګاونډيانو له نظره

پيسه دوست که درواغجن شی يوه غيران ته بم اتوم شي--- د پوهانو له نظره

په سياست کې رښتيا نه شته ،بېله غلا دغله بل کار نشته—د تجربو له نظره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملت او حکومت

شاګل خان د یوه سیاسي ګوند په پټو سترګو د ټولو پریکړو په منلو سره د خپل کلي وکیل وټاکل شواو ددې لپاره چې له نورو خلکو نه وپیژندل شي یو څ سره چتر ی یې په خپلو پیسو رانیوله هر چیري چې به تی که باران و که لمر که به پلي وویا سپور که به په ګاډۍ کې وو یا په مغازه کې هر چیري به یې چترۍ په سر نیولې وه

چا ترې وپوښتل چې وکیل صیب ولي دي په سرویس کې پر سر چترۍ نیولې ده ؟یو خو باران نشته او بل داچې موټر ټیټ دی او بیروبار دی ته هم ورسره په عذاب یې او هغه خلکو ته چې تا و رسره ژمنه کړې ده چې مرسته ورسره کوي هم په تنګیږي

وکیل صیب په ډیره امرانه ګړدود(لهجه) تر یو لنډټوخي او غاړي تازه کولو وروسته وویل:

موږ چې وروسته پاته یو همدا لامل دی څکه ملت او حکومت باید سره جلا شي که زه چیري دا چترۍ په سر نه کړم څرنګه به حکومت اوملت یعني زه او ته ځوک وپیژني (کټ کټ یې وخندل)

رښتیا هم د داسي ده د حکومت سرې باید یا چترۍ یا قره قلۍ یا لویه صدرۍ یا هم لکۍ ولري یا نور څه چې د ملت څخه یې توپیرو شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستنګري ښځې

فرانکلن وايي د ښځو ژبې تورې دي او هغوی هيڅ وخت نه پرېږدي چې تورې يې زنګ ووهي ر ښتيا هم د ښځو ژبې غوڅوونکي (جارحه) او اورنيو(ناريه) وسلو ته ورته دي او دځينو ژبې د سرو زرو کوچنۍ زينتي تورې دي چې په اساني د مېړه د خپلوانو پر بدن ننوتلای شي. دي ډول ژبه لرونکو ښځو ته لاکتي ښځې هم وايي د ځينو نورو ژبې کټ مټ د ستوې(پيش قبضې) په غټوالي او تيره والي دي چې د مېړه د دوستانو لاسونه او پښې په يو ګ ګوزار پرې کوي چې تور زنی ښځې هم ورته وايي.

د دي ښځو او د هغو د مېړو ځانګړتياوې داسي لنديز مومي:

- لاکتي ښځې کور او ميړه خپل کښي د سهار له لمانځه څخه تر ماخستن پورې د کور کارونه لکه جارو ، اوړه اخښل ، ډوډۍ پخول ، کالي پريولل د مېړه چاپي کول او پر مخ سرخي او سپيده ټپل او د سهار دپاره اوبه تودول په يوازي توګه پر مخ بيايي مېړونه يې هم د دوتر له څوکۍ څخه د ناستي ستړي شوي وي لکه يرغه آس تر کوره ځان رسوي خو د کور وره ته د رسيدو سره سم سست او بيحاله لکه سل کلن سپين ږيرى کړوپ او او کوږ په ټوخه ټوخه د کاله انګړ ته ننوځي او ځان هغې کوربچې ته چې تر مخه ورته اواره شوې ده رسوي او اوږد اوږد غځيږي توري هيلي چاى او چاپي کول يې اړين(حتمي) کار دی خو د زينتي تورې د زنګ د مخنيوي په پار د ميړه د نورو خپلوانو د چخولو نغمه د مېړه غوږ ته رسوي.

ستوې ډوله ښځې د مېړه سره يو ځاى له خوبه راکښيني د کور ساده کارونه په خپله يا پر خواښې اجرا کوي او ګران کارونه د کورني کار په ډول مېړه ته پرېږدي ،د مېړه د تګ سر يو ځاي دا هم له کوروځی او د مېړه د رارسيدو سره يوځاى کورته رارسيږي او مېړه يې د رسېدو سره سم په کورني کار بوخت کيږي غوږ لوښې ، خيرن کالي ، اوتو... او چاى دمول...

ستومانه ستوې ښځې تر چاى دمولو پورې ارام کوي د پيالو په شرنګې سره پر ځاي جګې کښيني او چاى څښې او د دې لپاره چې تورې يې زنګ ونه وهي د مېړه د خپلوانو په ردو او بدو ويلو پيل کوي د دې غوږونه او د هغه بل پوزه پرې کوي.

دريمه ډله يې تور زني ښځې دي چې په يوولسو بجو له خوبه را کښيني په ببرسر او ناولي مخ د مېړه د تيارې کړی سرې چاى نوش جان کوي تر سينګار و روسته د پلار او يا دوستانو کره ځي او هغه وخت چې مېړه يې ټول کورني کارونه وکړي ايله بېله دا هم کورته رارسيږي او له واره د دې لپاره چې تورې يې زنګ ونه وهي د ميړه پر دوستانو بريد کو ي د هغو سرونه پرې کوي او چې مېړونه خوار يې څه ووايي نو د واره په سينګار ځي کې سينګار کړی مخونه پريمنځي او مېړونه لږمون خوړين پرېږدي.

خو يه وروره ! يوه بله ډله ښځې هم شته چې اورني(ناريه) ژبې لري چې يو وار يې موخه (هدف) ونيسي او هغه تباه کوي د ستنګر غوندي د موخي پسې وي دې ښځو ته ستنګرې ښځې وايي که دا ښځې ووايي چې ستا مور نور په دې کور کې اوسيدی نشي بيا چې هغه ورکه يا مړه نه کړي نه يې پرېږدي د دې ښځو مېړونه سهار وختي راکښيني ټول کورني کارونه تر سره کوي بيا نو خپلو دندو ته ځي د دندو له بشپړيدو نه مخکې په يوه بهانه کورونو ته راځي چاى دموي چې ميرمني يې راورسيږي بوټونه يې ورباسي هندي ګل ماله (ګيت ماله) ويدو ته اچوي او ورو ورو يې چاپي کوي .د ستنګري غوم غوم چې نور دي ورونه دي ورور تر هغه دوام کوي چې خوار مېړه يې ومني چې ورور يې نه دي نور ورور.

خوار مېړه چې د ديګ او چايبر څخه وزګار شي نو سينګار ځي ته کښيني سترګې توري ، ميک اپ او لبسرين وټپې د زرو اميل واچوي او په ناز ناز د ستنګرې خوا ته ورشي او د جار دې شم جار دې شم په ويلو د ستنګرې دود پو کوي او په چورت کې وي چې سهار ته اوبه تودي کړي کنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولواکمني(امپراتوري)

د شرمښ له ګوابښيدو ، ښکنځلو . غوړچونو او بې ځایه پلمو څخه د ختو ډکي لوی ويالي دېخوا ټول ژوي ډير په ربړ اخته وه خو د ويالي هاخوا ژويو ښه ژوند درلو د ځکه هغوی شرمښ نه د رلود

د ويالي دېخوا ژوو د ښان د ژغورتيا لپاره يو پلان جوړ کړ او د پلان د پلي کولو دنده يې زړي ګېدړې ته ورپه غاړه کړ چې شرمښ لکه پلار يې په ختو کې ډوب کړي.

يو و رځ زړي ګيدړې شرمښ په خبرو خبروله ختو ډکي ويالي ته بوت او د هغې خوا د خوړو غوښو ژويو ښيګڼې يې ورته څرګندولې او هم يې له پلان سره سم په درواغو سره پر دواړو خواو د ده د پلار واکمني کيسې ورته کولې او په مکر يې ورته ويل:

پلار دي ډير زړه ور حکمران وو دلته به ودريد او له ويالي به يې په پېتو سترګو توپ واهه هلته به يې يوه هوسۍ نوش جان کړه بيا به بيرته دېخوا راغی هغه وخت دا وياله ډيره پسورروه وه اوس خو ډيره کمبره شوي ده ،ته هم د هغه پلار زوي يې لږ مېړانه وکړه په تا کې هم د هغه پلار وينه چليږي

د شرمښ په رګو کې دغيرت وينه وچليدله تر شا ولاړ خو زړه يې ونه کړ چې ټوپ ووهي سترګې يې سرې شوې

زړي ګيدړې پر له پسې هڅاوه او په مکر يې ورته ويل:

کټ مټ لکه پلارغوندی دي د هغه سترګې به هم تکي سرې شوې خو ټوپ به يې کړ.

شرمښ بيا تر شا ولاړ خو د ويالي په ليدو خولې پرې را ماتي شوې. زړي ګيدړې په مکر د واه واه کټ مټ لکه پلار دي! هغه هم په لومړي پلا هم داسي... خو ټوپ به يې کړ.

ويلو سره يې شرمښ نه پريښود چې د دي کاره لاس په سر شي.

شرمښ د پلارد غيرت خبرو نور هم زړور کړ. بيا تر شا ولاړ خو بدن يې وريږديد او پښې يې سستی شوې.

زړي ګيدړې د شاباش په ويلو سره وويل:

کټ مټ لکه پلار دي پر هغه به هم د غيرت خولې را ماتي شوې او لوند خيښت به شو او ټول بدن به يې له غروره ريږدېدې اوځان به يې لوند کړ تا خو لا تر اوسه ځان نه وی لوند کړی!

شرمښ ته دا ټول کارونه عادي وښوول شول د پلار غيرت يې سترګو ته نيغ ودريد تر شا ولاړ په منډه شو او ټوپ يې کړل تر ويالي هغه خوا واوښت.

شرمښ خپله امپراتوري جوړه کړه ځکه په اساني اوښت او راوښت د زړي ګيدړې بې کچه هڅول د شرمښ د امپراتوري د جوړولو لامل شو. ددې پر ځای چې يې دا خوا له ظلمه وژغوري هاخوا يې هم په غضب اخته کړه .

زړي ګيدړې په ناسمي هڅوني له کبله د مکارۍ لقب ورکړ شو .که څه هم زړي ګيدړې ددې تاريخي خيانت له کبله ځان په هم هغه ختو کې ننه ايست خو ګټه يې ونه کړه اوپه تاريخ کې همداسي خوندي شوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د درويش ډالۍ

زلمی ترکان چې د تندي په خولو او دلاسو په ټناکو یې ځان نه شو مړولای ، د یوه بډاي سړي پر لور مین شو شپه او ورځ لکه ماهي تپیده په ډیر زړورتیا د انجلۍ پلار ته د مرکې لپاره ورغی او له ځان سره یې وویل:

یا مرگ یا بری!

د انجلۍ پلار زلمي ته وویل:

په یوه شرط لور درکوم ته به ماته یو لک افغانی په درویزه (فقر) برابر وي!

مجنون زلمي چې په لسو کلنو کې یې د زړو افغانیو ښتن شوي نه و نو یولک په درویزه برابرول ورته نا شونی وبرېښیده زړه یې و ځان تر موټر لاندې کړي خو بیا یې له ځان سره وویل:

یو ازمېښت به وکړم! بیا یې د ملنګي کالي واغوستل او کچکول یې پر غاړه کړ کوڅه په کوڅه ،کور په کور یې ګدایي کوله ،څه مهال لا نه وو تیر شوی چې ونه یې ښه جګه شوه ،سره باړخوګان یې وکړه او ښه چاغ شو او بل دا چې تر یو لک نه یې ډیري پیسې ټولي کړې نو د انجلۍ د کور پر لور رهي شو په لاره کې یې له ځان سره ویل:

کاشکي له دې چمه (معاملې) تیر شم

خوله دې کبله چې ژمنه یې کړې وه نو ورغی او د پیسوډک بکس یې د انجلۍ د پلار مخې ته کېښود.

د انجلۍ پلار پیسې وشمیرلې او بیا یې ورته وویل:

سمه ده اوس نو ګدایي پرېږده ! ورځه خپل اصلي کسب پیل کړه!

درویزګر زلمي په غوسه ورته وویل:

دا څه وایې خنګه پرېږدم!

تا دګډایي خوند لیدلی دی ؟ که له ځانه لګیا یې !

د انجلۍ پلار ورته په غوسه وویل:

دا زما شرط دی !

درویزګر ورته په غوسه وویل:

زه ستا د لور نه تیریدای شم خو د د رویزګري څخه نه !

او زیاته یې کړه: څه بیوزلی خو نه یم زر انډیوالانې مې نوري ستا له لور نه ښه پیدا کړي دي دا چې ژمنه مې کړې وه راغلم کنه زه او ستا لور ډیر سره لیرى یو دا یو لک افغاني مې هم د درویش ډالۍ در بخښلې دي !

د خداي په امان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د روژې پر پنځلسمه اختر شو

دا د هغو درو – څلورو وګړو کیسه ده چې د بل یې نه اوریده .وایي داسې هیوادونه هم شته چې ټول سره یو د بل نه اوري یا لږ اوري باید توبه وکاږو چې له داسې خلکو څخه مو دی خدای وساتي او خدای دي دا وس ورکړي چې غوږنۍ (ګوشکي) ځان ته واخلي.

وایي کوڼ جمال سپیره غوږونه او وچې شونډې لالهانده هاخوا دېخوا به بېړه ګرځېد را ګرځېد او هر څوک به چې مخې ته ورغی .نو په ډېر ټیټ ږغ چې یوازې دی پوهیده چې څه وایي ترې پوښتل:

- وروره زما وزې ورکې دي یوه یې شودې کوي او بله یې وچه ده. د وچې بیا یو ښکر مات دی زوی مې وړی دی...
- لارویو به د ده له حرکاتو او شونډو له رپیدو څخه اټکل کاوه چې خیر غواړي نو په غوسه به یې ورته وویل:
- خدای دي درکړي ځوان سړي یې شرم وکړه ځان او اندام دي ګوره خیر غواړې بې غیرته..!!
- چا چا به لا له غوسې غاښونه ورته چیچل.
- کوڼ جمال په نهیلۍ د کور خوا ته روان و او له ځان سره یې غوم غوم وو او ویل یې:
- اخیره زمانه ده څوک د چا نه اوري نن ده که سبا هرومرو قیامت دی خو سترګې یې پر یوه بزګر ولګېدې له خوشالۍ یې سترګې وبریښیدې او مخامخ ورته ودرید او ورته یې چې هغه هم له بد مرغه کوڼ وو وویل:
- سلام علیکم! زما دوې وزې ورکې شوي دي یوه شودې کوي او بله وچه ده او یو ښکر یې هم مات د ی زوی مې وړی دی مور یې شودې نه لري....

بزګر چې په خپل کار اخته وو فکر یې وکړچې دی هم روژه ماتي ته وړیا ترکاري غواړي نو په غوسه یې ورته وویل:

- زه دلته ترکاري نه پلورم ورځه له بازاز نه یې وپلوره!

لاس یې د بازار خواته ونیوی

کوڼ جمال د خیر یوسي په ویلو د بازار خواته رهي شو اوله ځان سره یې ویل دا چې قیامت نه راځي د داسو ښو خلکو له برکته دی

جمال سوچ وکړ چې هغه ورته ویل وزې د بازا رخواته تلې دي نو د منني په پار یې و رته وویل:

- خیر یوسي وروره چې راودي ښوولې!

بزګر سوچ کاوه هغه ورته بد او رد وایي نو هغه ورته وویل :

- ځه وروره چې بیا را نه شې!

له نیکه مرغه جمال خپلې ورکې وزې په بازار کې وموندلې او په خوشالۍ کورته راغی او توله کیسه یې و خپلې میرمنې ته وکړه او دا چې اوس هم ښه ښه خلک پیدا کیږي شکرونه یې وایستل.

جمال او میرمنې یې وپتیله چې دا وچه وزه چې یو ښکر یې مات دی و بزګر ته وبښي ځکه دوی یې له لوی لالهاندې څخه ژغورلې وو . جمال وچې وزه له روغ ښکره ونیوله او بزګر ته یې بوتله

- بزګره وروه! خدای دی خیر درکړي ښه سړی یې زموږ ورکې وزې دې را وښودلې کنه په کومه قصابي کې به یې اوس غوښې پلورل کېدې او زما زوی به له لوږې مړ وای. دا وچه وزه یې ستا خیر که یو ښکر یې مات دي

(د اشارو سره).

(c) ketabton.com: The Digital Library

بزګر چې د جمال شونډې او د وزې مات ښکر ولید داسې پوه : چې په ناحقه تور واوښت او داسړی وایي چې ولي دي زما د وزې ښکر مات کړی دی.

بزګر په داسې حال کې چې له غوسې ریږدیدې وویل:

- زه والکه خبر یم بیا لېونی خو نه یم چې د پردیو خلکو د وزې ښکر مات کړم هغه هم په دې مبارکه روژه کې توبه ځه وروره لار دې واهه!

دوه کانه دواړه کرار کرار اخته وه یو څه ویل کیدل اویو بل شی مانا ترې اخېستل کیدله.

جمال داسي وانګیرله چې بزګر ورته وایي وچه وزه نه غواړم هغه بله د شودو هغې راکړه!

نوهغه زاری یې ورته پیل کړې:

- دواړه دي له تا جار شي خو د هغې بلې شودې خپل زوی ته ورکوم مور یې شودې نه لري دغه ښکر ماته وزه ومنه(د اشارو سره)

د جمال ننواتي و بزګر ته غوسه او قهر ښکارېده.

(د دې نه ښکاري که څوک د چا خبري نه اوري نو کړه یې هم نه وینې خپل سوچ یې خبري او کړه ورښیي)

دبزګر چې وار په واریې غوسه له دې ناحقه تور څخه زیاتیده وویل:

اوس چې ترکاري نه درکوم قست اخلې ما له هغه سره وپیژندې چې دنګه مار (دعواجلاب) یې!

د دوي خبري دومره ردي بدلي شوې چې لاس او ګریوان شول نو غوره یې دا وګڼله چې درېیم سړي ته ورشي . نو په داسي حال کې چې د دواړو خولې ښوریدې(په اشارو سره) یو په غوسه او بل په ننواتي وو سره رهي شول په لاره کې یې یو سپین ږیری چې د بده مرغه هغه هم کوڼ وو او بام یې اخېراوه ولید دواړو خپله کیسه ورته په یو وار پیل کړه:

سپین ږیري چې د دواړو د لاسو او شونډانو ښوریدل ولیدل نو پوه شو چې دوی شکایت ته راغلي دي دوی وایي دا کوڅه مو ولي په اخېر بنده کړې ده. ولي ګاټې (اوګیره) په کور کې نه نیسی.

سپین ږیري سوچ وکړ چې یو خو سپین ږیري دي او بل دا چې روژه ده نو راځه دوی ملامت کړه نو لکه چې شخړه یې په پیسو غوښتله لستوڼي یې بډ وهل ملا یې په پټو تینګه وتړله له بامه راکوز شو او په کوڅه کې د شو نډانو ښوریدل او لاسونه غورځول خپل لوړ ستونځ (اوج) ته ورسیدل:

دا لاره د چا دپلار ده!څود یې بندوم څوک یې قواله لري !!لاس مو تر لندنه خلاص! زه نر نه وینم! ښښه غواړم مور یې شودې نه لري.. وچه وزه... مات ښکر... ترکاري....

لاسونه هرې خواته په اشارو وه شونډې په ښوریدو وې .

نورو لارویو سوچ کاوه چې ګوندي دوي ورزش کوي

کرار کرار دا و رزش توند او تیز شو ،یو پر بل بریدونه پیل شول یو وار به ښکر لاندي شو بیا به بزګر او کله کله کوڼ جمال لاندي شو

په همدې جګړه کې روژه ماتي هم تیر شو نو درې سره وپیتیله چې کازي ته ولاړ شي نو درې واره کازي ته ورغلل له بده مرغه کازي هم کوڼ وو او خداي خبر څومره پریکړې به یې هسي په اټکلي ډول کړي وي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمال ، ختګر او بزګر د کازي په ليدو په يو وار په خبرو او اشارو شول:

-چا لاره بنده کړي ... ښښنه غواړم مور يې شودې نه لري....پورته مې کاګل کوی... هاخوا بازار....

کازي د د وی په ليدو په غوسه شو او ويې ويل:- يو يو شاهدي ورکړي !

ختګر چې تر نورو ډير سپين ږيري وو لږ مخته او په اشارو شو

-ما پورته پر بام کاګل کوي(پورته يې ګوته ونيوله)

هغو دوو نورو هم سر وښوراوه

کازي چې ډير پوه سړي وو او پوهيدی چې هوښيارانو ته يوه توری بس دی نو له ځان سره يې سوچ وکړ د دوو پر ځای درې شاهدي ته راغلي دي خلک به وايي کازي بې عقله دی ، دی په نيمه نه پوهيږي زه دومره بې عقله نه يم نو له ځايه پورته شو او ويې ويل:

بس بس زه پوه شوم چې تاسوسپوژمۍ ليدلي ده ځی سبا اختر دي (له داسي پريکړي جار شم رښتيا هم د سپوږمۍ ځوارلسمه وه او دوی هم سپوږمي ليدلي وه)

او هغه وو چې د روژي پنځلسمه اختر شو موږ لا د ماشومانو لپاره د کالو ټوکر نه وو اخيستي.

يو مشر چې د بل نه اوري او د بل په اشاره پريکړې کوي هرومرو به د روژې په پنځلسمه اختر وی خو د لسو مشرانو په پريکړو نه پوهيږم چې څه وخت اختر او څرنګه اختر شي او ....

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویمه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر پاچاهي يې نه ورکوم

ترافيک غورازه چکله موټر ته لاس ورکړ . موټر و درید او د کړکۍ له ماتې ښیښې نه د موټروان سر را ښکاره شو.

ترافيک : ليسانس او جواز سير دي راکړه!

چلونکي دېخوا هاخوا د واسکټ جيبونه ولټول او ويې ويل:

-راڅخه ورک شوي دي!

ترافيک ورته په غوسه شو او له يو — دوه پټکو وروسته يې موټر د سړک پر غاړه ودروی او د جريمې د پاڼې په ليکلو بوخت شو

موټروان د واسکټ له غوړ جيب نه د نسوارو ډبلی راوکيش د مخ او غاښو په ليدو شو او له ځان سره يې غوم غوم وکړ او ورو يې وويل:

تر دي موټرواني خو د ترافيکو کومنداني ښه ده .

ترافيک د جريمې پاڼه موټروان ته ورکړه

موټروان په تونده لهجه وپوښتل:

-څودي ؟

- دوه سوه!

موټروان د شنو لوټو بنډل راويست او يو لوټ يې ترافيک ته ګذار کړ او ورسره يې وويل :

نوريې ستا!

موټر يې سوچ کړ او په داسي حال کې چې ګير يې اليشاوه(بدلاوه) د ځان سره و ويل:

- نه بابا پر پاچاهي يې نه ورکوم او په روڼ تندي پر خپله لار روان شو

کابل ۱۹۹۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښوکې خوند

ترهغې وروسته چې جلندر خان له رياست ليري شو برات ګل خان چې ډير ښه چلندي او ټولنيز سړي دی زموږ رييس شو هغه هر چا ته ان که د نهمې رتبې مامور هم وي له ځايه ورته پورته کيږي د لاس روغبړ ورسره کوي او تر کتنې وروسته يې تر وره پوري بدرګه کوي. زما دا کړه وړه ډير خوښيږي ځکه د انسان کرامت ته درناوی تر ټولو ښه کار دی .

ورو ورو ځير کيدم چې نوی رييس صيب يوازي پخواني رييس جلندر خان ته له ځايه نه پورته کيږي په ناستې روغبړ ورسره کوي او وروسته يې هم نه بدرګه کوي

ما ته دا معما پيچلې وه نو ځکه مې يوه ورځ رييس صيب ته ورغلم .ماته چې د تحريراتو کارمند وم له ځايه جګ شو تر روغبړ وروسته مې د يوې پوښتنې غوښتنه ترې وکړه هغه په ورين تندي اجازه راکړه:

ماځيني وپوښتل:

- رييس صيب که څه سپين سترګې کيږي خو بيا هم ستاسو ښه چلند دا جورت راکوي چې يوه پوښتنه درڅخه وکړم.
- مهرباني!

تاسود هغه ښه چال چلنداو سلوک له مخې چې لری ټولو اړوندو ته چې ستاسو ليدو ته راځي له ځايه جګيږی خو... خو يوازي جلندر خان ته ...

که مو ډير ځيني بد راځی چې نور دلته د راتلو اجازه ورنه کړم.

رييس وويل:

- نه ، نه!

د رييس تندي لا پراخ شو او لږ موسکی شو او ويې ويل:-

-هغه داسي سړي دی که چيري زه له ځايه پورته شم هغه سم له لاسه زما پر ځای کښېني او ورو يې زياته کړه :

هغه د دې ښوکې خوند ليدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مامور باشي خشره باشي پيش بيا

په داسي حال چې لاسونه مې په خپلو پړسيدلو جيبو نيولی وو په بسم الله ويلو سره د ميوو د کراچيو څنه ګوښې ته ننوتلم او له ځان سره مې وويل:

- شريفه! نن دي پوره پنځه بنډله د لسګونو نوټونو تنخواه او ماکول اخيستي ،جيب دي ډک دی چې نن ميوه نه اخلې نو کله به يې اخلې ؟

د ميرمني خبرې مې په غوږو کې ازانګې کوي چې ويلې:

- هو سړيه! ګوره شودې نه لرم ماشوم وږی دی د ګاونډې ښځې ته ډاکټر ويلي وو ښوروا او ميوه خوره چې شودې وکړې نو يا غوښه راوړه يا ميوه چې شودې وکړم.

غوښې خو مود لوی اختر په لومړی و رخ وخوړې پاته شوه ميوه د ځان سره مې حساب وکړ که پوډري شودې واخلم د کور کرايه ، بربښنا ، صابون ، کوپوني توکي ،جارو ، تيل او د راديو بالتی به په څه واخلم نو هرومرو شودې اخلم.

ښه کومه ميوه واخلم را په ياد شول خټکی ښه دی ځکه کله چې مې ميرمن د هيلۍ په واده کې خټکی خوړلی وو نو په ډيره خوشالۍ يې د شپې راته ويلي وه:

هو سړيه! نن مې شودې ډيري شوي دي ولې ؟

نن مې خټکی خوړلی دی (په ډيره خوشالۍ) نو خټکي پلورنکي ته نژدې شوم او زړه نا زړه مې ترې پوښتنه وکړه:

کاکا من په څو دی ؟

پلورونکي ما ته وکتل خو څه يې ونه ويل. له شا نه يو بل ږغ کړه:

من په څو دی ؟

پلورونکي د رښتني پيرودونکي د ږغ په اوريدو له واره ځواب ورکړ:

-اته سوه.

ډير ورو د دوکان له څنګه تير شوم چې پلورنکي مې ونه ويني. هر خټکی له من - درې چارکه کم نه وو او ما ۲۲۰ افغانی ونډه ورته ايستلې وه نو له ځانه سره مې وويل:

خټکی نه شفتالو ، نو د شفتالو کراچې ته ودريدم ،خو ژر پوه شوم چې شفتالو هم شودې نه ډيروي ،همدارنګه هندوانې ،زردالو. ام ، ګيلاس...

يو هم زما په خيال شودې نه ډيروي ،په همدې چورتونو کې وم چې کومه ميوه شودې زياتوي ، چې د مامور سرګردان خبرې را په ياد شوې ، چې ويل يې که ميوه خورې نو ماښام يې اخله ډير ارزانه وي.

کور ته ولاړم او ناوخته د ميوې د کراچيو بازار ته د دوه سوو افغانيو سره ورغلم پيسې مې د کيسه برانو له ويرې په کور کې پريښودې ځان او کيسه بر مې دواړه بيغمه کړل.

جوړ جشن وو په هري کراچې ګيس ځريده او ځليده خو نرخونه همدا رنګه لوړ وه نود هري ميوې د نرخ په اوريدو په موزون قدم ترې تيريدم اخير ګيسونه هم تيل خوري ، خو د شودو د زياتيدو ميوه نه پيداکيده. له يوې کراچی نه چې د نورونه لږ وړاندې وه د سرک منځ کې ولاړه وه او ګيس يې هم نه درلود داسي ږغ پورته کيده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

مامور باشي خشره خور باشي پيش بيا!

له ځانه سره مې وويل:

لکه چې همدا بې ګيسه کراچي د مامورينو ده او همدا ماته وايي پيش بيا ، نو کراچی ته نژدې شوم په کراچی کې الوبالو وو هغه هم ډير ارزانه چارک په ۱۶۰ افغاني له واره مې له الوبالو څخه کڅوړه ډکه کړه او د سترګو تر کونجو مې بل پيريدونکي ته چې زما څنګ ته ولاړ وکتل هغه هم ماته مامور ښکاره شو او هغه ته زه . په ډير وياړ او غرور مې د ميوې کڅوړه په لاس کې ونيوله او د موټر تم ځی ته وراغلم خو اخيري سرويس را نه تللی وو او پر ځای يې ټکسي ولاړ ووچې په سل افغانۍ يې يو تن پورته کاوه او زما سره څلويښت افغانۍ وې. ټکسي موټران تلل او راتلل هيچ چا چنه منه نه ورسره واهله او هيڅ ټکسي وان هم نه ويل مامور باشي خشره خور باشي بی پول باشي پيش بيا!

يو ټکسي ته چې دوه سپرلۍ يې کمې وې ورغلم او په عذر مې ورته وويل:

وروه څلويښت افغانۍ دركوم مامور يم نوري راسره نشته!

هغه راته په غوسه وويل:

څوک بيا تجار دی چې ته مامور يې اخير موټر تيل خوری څه اوبه خو نه خوري!

موټر يې سويچ کړ او ولاړ.

پر سړک څوک نه ښکارېده يوه کراچی روانه وه چې يو تن پر هغه ناست او بل هغه راکښله زه هم د کوڅه دربو سپو له ويرې ورسره ملګری شوم .هغوی تيز تلل او ما ورسره ځغاستل له ځانه سره مې سوچ وکړ او داسي هوډ مې وکړ. چې دوی دواړه پر کراچی کښيني او زه به يې راکاږم ، ما کڅوړه پر کراچی کيښووله چی څيري نه شي او په دې ډول تر يو ځای پوري له دوی سره او هغه نه وروسته يوازي په داسي حال کې چې دشپې بنديز پيل کيده کورته ورسيدم .

ميرمني مې په وره کې ولاړه وه فکر يې کاوه چې کونډه شوې ده زما په ليدو خوشاله شوه او په شکر کښلو شوه او زما ژوندي راتګ ته يې خيراتونه او حلواوي اېښي وې.

له هغه وروسته چې ډوډۍ مو وخوړله نو په پوره غرور مې ږغ کړل:

راواخله هغه ميوه چې ويې خورو!

د ميوي له ټکي سره مې درې واړه ماشومان په بستره کې جګ کيناستل او کورس يې نارې کړ:

کومه ده ميوه!

تا به ويل نه چې پيشلمی دی که څه!

د ميوې په ليدو لړ وارختا شوم ځکه الوبالو چنجن وه او هلته نه ښکاريده نو ژر مي بهانه جوړه کړه:

چنجن الوبالو ويتامين لري!

(c) ketabton.com: The Digital Library

کسر شان

شمشتوخپله دنده د کسر شان په خاطر پرېښووله هغه لومړی د سينما ګانو د ټکيټونو د تور بازار تکړه غړی وو هغه هدو په دې دنده کې بهرنۍ ژبه هم زده کړې وه او وروسته يې د ښو فلمونو د کموالی په خاطر دا پخه دنده پرېښووله او نوې دنده يې غوره کړه.

هغه چې لاس او پښه يې پلستر وه او د ابن سينا د روغتون په عاجلې کوټه کې بستر وو خپله کيسه داسې کوي:

هره ورځ به له ځيرو کالو او لوڅو پښو او شليدلي ګريوان سره له يوې ټوټې وچې ډوډۍ د نوي ښار د لوکسو او پيسه والا خلکو د کورو مخې ته د خځلو(کثافاتو) بيرل تر څنګه کيناستم د کور د څښتن په ليدو به مې په پټه له جيبه وچه ډوډۍ راويستله نو هغه به مې په مزه مزه خوړله او د خځلو د بيرل په لټولو به بوخت شوم خو زما داکار په ليدو به کور والا شتمن زړه را باندې وسو ، جيب ته به يې لاس کړ ښې ډېرې پيسې به يې راکړې. تر ډېره مې دا کار وکړ په دې کار کې ډېر بريالی وم او ژوند مې ښه چليده.

د ډالرو د بيې په لوړيدو سره ماته هم نوې چورتونه را پيدا شول او له ځان سره مې ويپيله.

چې بايد زه هم د ډالرو کار وبار وکړم نو د وزير اکبر خان مينې ته چې هلته ټول بهرنيان ژوند کوي ورغلم هلته د يو ښه لوکس بهرني کور مخې ته کيناستم د کور والا د دروازې په پرانيستلو سره يو وروستی ماډل موټر راووت ،ما هم د چپه شوی بيرل په لټولو پيل وکړ . موټر راووت ما ته نژدې شو له سترګو له کونجو مې وکتل ، په موټر کې يوه پی مخې بهرنۍ پيغله ناسته وه ، غاړه دې مې بنده نه شې وايي: په بهرنيانو کې پيغلې نه شته نو يوه انجلۍ ناسته وه ما ته يې اشاره وکړه:

چې موټر کې ورسره سپور شم ما دېخوا هاخوا وکتل چې ډاډه شم هدف يې زه يم په خوشالۍ په موټر کې سپور شوم او په خوږو چورتونو کې لاهو شوم :

ښايي کوم لوکس رستورانت ته مې بيايي ؟ يا به يې خوښ شوی يم ؟ وايي په بهر کې داسې ځوانان نه پيدا کيږي يا به مې کوم بل هيواد ته استوي ؟ نقدې پيسې به نه لري له چا نه به يې اخلي ؟ په همدې چورتونوکې وم چې موټر بيريک ونيوه او پی مخې ما ته په اشاره په مکروريانوکې د کثافاتو لوی سيمنټي صندوق راوښووه چې په چټلويو پټ وو او د دس — مس- چس په ويلو يې ما ته وويل:

دلته ډېرې خځلې شته انشاءالله چاره دې په دې کيږي او که دې چاره ونه شوه زه مازيګر بيرته دديخوا نه تيريږم بيا دې د کابل درياب ته بيايم....

ما له خوشالۍ نه په هندې اکټ سره ځان په هغه خځلو وغورځاوه او هلته پرتو ښيښو زه ټپي کړم.

او د باي باي په ويلو ولاړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مدرنیزشن

زما یو ملګري نه پوهیږم څرنګه یې د بخت ستوری و ځلېدی په مکرویان کې یې کور واخیست. د دې لپاره چې ځان له سیالانو سره برابر کړي ټول زاړه او د مکرویانو تر سلیقې بهر شیان یې خرڅ کړل(څکه دوی له د اپارتمانو له شا برنډې ته ځیر شوي نه و چې ځیني ترې د زړو کالو د زیرمتون کار اخلي) او پر ځای یې لوکس او برقي سامانونه رانیول چې تر نورو ګاونډیانو څخه کم نشي ، میرمني یې په خپل وار لستوني بډ واهل او د مډرنو اصطلاحاتو کورس یې خپل ماشوم ته پرانېست چې په خبرو اولغاتوکې تر نورو ماشومانو چارک- نیم چارک زیاد وي.

زه چې له نوي کوره خبر شوم د کور د تبریکي لپاره ورغلم د کوچني اجمل او د مور په خبرو او لباس کې ډیر توپیر راغلي وو کالي یې لکه وېښتان لنډ شوي وه او د خبرو مساله یې ډیره شوي وه ، دا دومره بدلون په دې لنډه موده کې ډیر عجب راته ښکاره شو . خو د مکروریانو له اعجاز نه هم باید سترګې پټي نه کړو له اپارتمان سره داسي بدلونونه باید وي کنه نو عادي کور او مکرورینونو توپیر په څه کې دی !

کوچني اجمل به د هرې کولچې او چاکلیټ په اخیستلو سره د وبښه (!؟) او مننه ټکي کارول.

له دغو خبرو سره زه په چورت کې شوم او رنګ مې سور واوښت ورو ورو ځیر شوم چې ماشوم ما ته ځیني نصیحتونه هم پیل کړل:

کریمه(پخوا یې کاکا جان راته ویل)! خوارږه مه خوره چې ستوني دې په دردوي!

ما چې خوړو ته لاس نه وو وروری دا خبرې مې اوریدې او خپله یې همداسي خوړله او د مننه ، مور یم ټکي یې هم بیځایه کارول زه پوه شوم چې (دا تصنعي او تشریفاتي) ټپل شوي وییونه(کلمات) دي چې اجمل خوار ته په زوره ښوول شوي دي ، مور یې د ماشوم په دې اکر(وضع) خوشاله ښکاریده چې ښه نوي وییونه کاروي خو په ترڅ کې یې د ماشوم له بد سولی څخه به غوسه کېده نو ماشوم ته یې ویل:

- اجمل صیب! کریم مه په تلکوپ(!) کوه
- زما خندا د دغو نندارېزو او غلطو کلماتو په اوریدو دوه ګرایه(دوه چنده) شوه نژدې وو چې د خندا له زوره پوخ ووهم خو ځان مي ټینګ کړ مورږ په همدې خبرو کې وو چې زما دوست هم راښکاره شو
- کوچني اجمل د پلار په لیدو په چکچکو شو مور ته یې مخ وروااړاوه او ویي ویل:
- مامي هغه دی پاپي مې راغی!
- ما په اریانتیا شاو خوا وکتل او چې پر خپل دوست مې سترګې ولګیدې له خندا مې پوخ وهل او روغبړ ته یې پاڅیدم. په دې وخت کې داجمل مورزما دوست ته وویل:
- - د اجمل پاپي! ښه شو چې راغلې کریم توبره کي (!) ته راغلی دی.

د خندا مې تشي وخوړیده زما د دوست خندا هم چې رنګ یې لړ څه سور اوښتي و له ما سره غبرګه شوه .د اجمل د مور خندا په واریز(وقفه یې) ډول زموږ خندا پسي اخیسته (تعقیبول) او زموږ د ټولو خندا په کوټه کې انګازې جوړي کړي وې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو زه بيچاره!

له دېم نه پوښتنه وشوه ستا او ډاکټر تر منځ توپير په څه کې دی؟

هغه وويل:

دواړه سپينې چپنې اغوندو ، د دوکان د خلاصيدو اجازه لرو ، دواړه له جارحه وسلو نه کار اخيستلای شو ،دواړه تر سلو نه زيات فيس اخلو....

خو زه بيچاره!

خو ته بيچاره!!!

هو خو زه بيچاره د مشتري د وژلو حق نه لرم او هغه يې لري(په اسکيرلي برغ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

رايګيري

مدير عارف په منډه منډه د غونډې کوټې ته ځان ورسواوه ، هغه سوچ کاوه چې پرې ناوخته شوی به وي نو د دروازې له چولې نه يې دننه وکتل د رييس لاس يې د کوم شي په رای اخيستنه کې پورته وليد نو د ده لاس هم هلته په دهليزکې اتومات پورته شو او تر ټک ټک وروسته د غونډې کوټې ته ننووت او د نورو غړو په منځ کې چې د هغو هم ښي لاسونه جګ وو ، کيناست د ده نه وروسته مدير صمد ، مدير اکرم ، مدير جعفر ،پرې ګله چې د هغو ښي لاسونه هم پورته وو يود بل پسې کوټې ته راننوتل.

رييس د دې اکر (وضعي) په ليدو لږ سور واوښت موسکی شو او ويې ويل:

وبښی! زما په تخر کې دانه راختلې او نه شم کولای لاس ټيټ کړم خير په هر ډول لکه چې د غونډې ډير غړي پوره دي نو غونډه رسماً پيلوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروپاګند

پستکي خمڅ ته ورو په غوږ کې وويل:

ته خبر يې ؟

خمڅ په هېښتيا او وارختايې وپوښتل:

نه وروره څه خبره ده ؟

بې و زلي او لوږه ډيره شوې ده ان هغه لنډک نه دی

- هو!

د هغه خوارکي مخ له ډيرو شوتلو د خوړولو نه پړسيدلې دي!

خمڅ بيا په هېښتيا سره وپوښتل:

شوتلو يې څرنګه مخ پړسولې دی ؟

پستکي په حق جانبه بڼه وويل:

ولي نه دي اوريدلي چې د غوا نس د ډيري شوتلو په خوړلو پړسيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلا دي وي همداسي

بیزو سوی ته چې ورسره ګاونډی وه د خپل ورک شوي زوی کیسه کوله سترګې یې د اوښکو ډکې شوې او په داسي حال کې چې یې پوزه یې راکښله و ویل:

هغه زما ډیر ښایسته ماشوم و د هغه د پوزې او شونډو ښایست خو لاڅه کوی ډیر ښه پیکی یې هم د رلود هغه کټ مټ زما د مشر زوی په شان ښکلی...

سوی ته د بیزو د مشر زوی د څیرې را په یادیدو سره داسي په کړس کړس خندا ورغله چې په وچو پاڼو او وښو کې یې څو لوټکي وخوړلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاغ چاغ

د ښاروالي په انګړ کې یوه ډله مظاهره چیان را ټول شوي وه او همدا یو شعار یې را غبرګاوه :

چاغ ، چاغ

بیا به یوه ږغ کړل :چاغ

نورو به په یو ږغ غبرګول:

چاغ چاغ ، چاغ چاغ

د انتصابي کمیسون رییس چې ډیر ډار شوی وو سل زړونه یو کړل او له مظاهره چیانو څخه یې وپوښتل:

.ولي چاغ ؟

یو تن مظاهره چی چې اوقي (پوخ پتیر) ښکاریده په سا نیولي ګردود (لهجه) ځواب ورکړ:

هر ډنګر چې چاغیږي بیا یې بل ډنګر پر ځاي ټاکل کیږي!

پوخ پتیر بیا مخ مظاهرې چیانو ته واړوه او په حق جانبه بڼه یې هغوي ته وکتل اوویې ویل:

نو موږ چاغ غواړو

ټولو په یوه اواز ورسره غبرګه کړه :

چاغ چاغ ، چاغ چاغ

چاغ چاغ ، چاغ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مډرنه سيالي

د مکروريانو په اپارتمانو کې د دوو ښځو تر منځ په کوم کوچني شي لفظي شخړه پيل شوه . لا څو شيبې نه وې تيري شوي چې ګڼ شمير ليدونکي دې بې ټکيټه ننداري ته را غونډشول .

ته څه شي يې!

څه لرې ؟

په څه نازيږې ؟؟

خبرې کرا رکرار تودېدې ، لومړۍ ښځې له لږ سوچ نه وروسته پر پوړنې ملا لکه پهلوان ټنګه وتړله او په منډه خپل اپارتمان خواته ولاړه او د هغې خوا يې په داسې حال کې چې يو برقي داش يې پر اوږه راخيستي وو او خندنې وه بهر راووتله او خپلې حريفې ښځې ته يې په طعنه وويل:

او خوارکۍ ! راشه زما د دې برقي داش سره خبرې وکه!

دويمه ښځه د داش په ليدولو لکه چې برق نيولې وی هغه هم په بېړه خپل اپارتمان ته ننوتله او له څلورم پوړ نه يې پر اوږه خپل سل کيلويې برقي داش بهر راويسته او ورسره يې وويل:

او بيچاره ته څه له ماسره خبرې کوې! زما د دې نوي برقي داش سره خبرې وکړه!

د ننداچيانو پرله پسې چکچکو لومړۍ ښځه وهڅوله چې په منډه ولاړه شي او ځان وښې ،هغې هم په پنځو ثانيو کې يوه دولس ګزه غالۍ چې دوو پهلوانانو له ځايه نشواى ښورولاى له پېنځم پوړ نه پر اوږه راويستله اوپه ميدان کې يې وچرخوله او مخ يې خپلې حريفې خوا ته کړ او ويې ويل:

ته کم بخته لومړی زما د دې دولس ګزه غالۍ سره خبرې وکړه!

دويمې ښځې خپل لستوني بډ واهه او لکه فنر ولاړه هغې هم هم هغسې يو دولس ګزه غالۍ پراوږه راويستله او ويې ويل:

ته خواره هم لومړی زما ددې(ماور) غالۍ سره خبرې وکړه! زما سره څه خبرې کوې!

لومړۍ ښځې ۲۶ انچه رنګه تلويزيون د الماری سره چې څلور تنو هغه نشواى انتقالولاى لکه بنکه بهر راويست او حريفې ته يې په کنايه وويل:

او بيچاره لومړی زما د دې رنګه ۲۶ انچه تلويزيون سره خبرې وکړه! زما سره څه خبرې کوې!

دويمې ښځې هم همداسې يو تلويزيون او يو راديو کسيټ سره بهر راووتله او ويې ويل:

ته لومړي زما د دې شل انچه رنګه تلويزيون او دوکسيټه نېشنل پانو سونيک ټيپ سره خبري وکړه!

شخړه دومره توده شوه چې سرک بند شو د سينګار الماری تخت ، ګاڼې ، لوښي ، بستري ، چرګان...ورو ورو د دويمې ښځې په تندي خولې راماتي شوې ځکه د لومړۍ ښځې سامانونه او د ننداركوونكو چکچکو لږ زياتی کوی ، خصوصاً د سرو زرو يو کيلويې اميل يې روحيات بلکل خراب کړل او په نيمه ضعف حالت يې پر يوې بسترې تکيه وکړه.

لومړې ښځې چې ميدان يې وړی ګاڼه لکه يو ملي اتل د يو ميز له پاسه ودريده او د کاليو او ګاڼو په ښوولو لکه کلنګ چې ښکاره کوي پيل وکړ او د هر توکي په ښکاره کيدو سره به يې زياته کړه:

زما سره څه خبرې کوې د دې ...!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ننداره چيانو چکچکو ميدان ښه تود کړی وو د دې نه وروسته يې د ميره د بانکونو او نوي رانيول شوو جايدادونواو د دوستانو دموقفونو په لست په ويلو پيل وکړ:

په پغمان کې سل جريبه باغ!

چکچکي

زما سره څه خبرې کوې راشه زما د ميره سره چې رييس دی خبرې وکړه !

دويمه ښځه چې ضعف وه د رييس په اوريدوسره يې جتکه وخوړله له ځايه را پورته شوه او ويې پوښتل:

- څومره وخت کيږي چې رييس دی ؟

- يو کال کيږي.

دويمي ښځې چې لاس يې پر ملا نيولی و و کټ کټ وخندل او ويويل:

هوو بيچاره! رږغونه يې پيل کړه ټول چوپ شوه چې څه خبره ده .

هغې ويل:

هو بيچاره! زما ميره يوه اوونۍ کيږي چې رييس شوی دی.

سامانونو ته يې اشاره وکړه او زياته يې کړه:

دا يې د يوې اوونۍ کمايې ده يو کال وروسته راشه بيا سيالۍ را سره وکړه ولې لې.

لومړۍ ښځې د ولي لې په اوريدو ضعف وکړ او ګاونډيانو هغه خپل اپارتمان ته بوتله

د ميدان پر مخ دومره کالي او سامانو نه وو چې د ديرشو ځوانانو په درو ورځو کې هم نشوای دننه کولای (خدای دې مو د ښځو د سيالۍ نه وساتي) ،

(دا دهغه رييسانو ميرمني وې چې رشوت يې نه خوړۍخدای مو له رشوت خوره ساته)

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجرد کوپون لرونکي

کله چې د راډيو څخه دا اعلان خپور شو چې مجرد کوپون لرونکو ته د (الف) احتياطي پارچې په بدل کې د واده لګښت او که مجرد کوپون لرونکي ښځه او نارينه واده سره وکړی د (ب) احتياطي پارچې په بدل کې د مکروريان د کور ښښتنان کيږي. د اعلان په سبا د کوپون شعبې ته د درخواست ليکولو پنډونه راورسيدل چې په کې د چا ميرمن لا درکه ، د چا خو لا پلار هم مجرد وو. ماچې د ديرش کلو راهيسي د مکروريان د کور درلودو ارمان د رلود او ان ورته حزبي شوي وم او د واده لګښت ، سينګارول ،ګل پوشه ګاډی ، ساز ، هوټل ،ويدويې کمر ې د نرخونو په اوريدو مې قره قلي خولۍ پر سر څلور ګوټې جګه شوه . نو ددې اعلان سره مې يوه اوږد درخواست ليک د کوپون شعبې ته وروړ خو هغو رسمي اسناد غوښتل ما هم لستو نې بډ وهل او خپلي ميرمني ته مې طلاق ورکړ ، هغه هم د خپل لمسي کره ولاړه.

د طلاق اسناد مې د درخواست ليک سره سنجاق او د کوپون شعبې ته مې ور وړ او په سلو واسطو مې متاهل کوپون په مجرد کوپون الېش کړ ، ددې پړاو وروسته يې د نوی نامزدي د خلص سوانح فورمه راکړه ، فورمه مې واخېستله او درسمي کارمندي نامزدي په لټه کې شوم د خپلي شعبې نه مې پيل وکړ ، هغوی ټولو کارمندانو د نورو سره وعدې کړي وې ، په ګاونډي نورو مديريتونو رياستونو ، وزارتونو او کوڅو . ليلامي پلورونکو کې وګرځيدم داسي کارمنده مې ونه موندله ، په ياد مې شوه چې زموږ د شعبې پياده تاجبرو ميږه پينځوس کاله پخوا مړ شوي وو او مجرده وه نو هغې ته ورغلم او د واده وړانديز مې ورته وکړ د بده مرغه هغې زموږ د رييس سره وعده کړي وه نو اړ شوم بيرته خپلي ميرمني ته مرکه واستوم چې لومړي چيرته پياده -ماده مقرره شي او بيا واده راسره وکړي هغې چې له ما په څلويښت کاله واده او ګډ ژوند کې ښه ورځ نه وه ليدلې نو مرکه يې رده کړه او مناسبه يې وګڼله د خپل لمسي سره واوسي نه زما په ګېډه وړي کارمند سره ،ما د مکروريان د کور ،په هوټل کې واده ، ويدويې کمره ،عکاسي ډيري کيسې ورته وکړې خو هغې داسي وعدې ډيري اوريدلي وې او اوس چې په رښتيا برابري شوي وې هغې نه منله ،قران او قسم هيڅ ګټه ونه کړه نهيلۍ شوم اخير مې يوه کرايي ميرمن وموندله فورمه مې ډکه کړه د کوپون شعبې ته مې ور وړه ، د کوپون مدير د فورمې په ليدو په خندا شو او يې ويل:

دا ښځه زه پيژنم د سلو زياتو کارمندانو فورمې هغې ډکي کړي دي که زه وغواړم دا فورمه ردولای شم. ما ډيري ننواتي ورته وکړې او د اورو د پارچو څخه ورته تير شوم بيا يې يو بل ډول فورمه را کړه چې هغه ډکه کړم .دا فورمه مې د ناوې دکاليو د لګښت کميسيون ته ورووړه ، هغو د عکس په ليدو د وطني ټوکر بيه وليکل ،ما ډير استدلال وکړ چې ناوې والا وطني ټوکر نه خوښوي .خو هغوي اصرار کاوه چې وطني صنايع بايد تقويه شي ، د غورو د پارچې په ورکولو مې په ومنل چې بهرنی صنايع هم بايد تقويه شي.

بيا د واده د موټرد لګښت کميسيون ته ولاړم هغوي د تيلو د سپما په پار د بګۍ(ګاډی)لګښت راته وليکی خو د صابون د پارچو په ورکولومې د پروړولګښت سپما او د ټکسي لګښت پر ومانه.

او د موسيقي(ساز) کميسيون ته د تلو نه مخکي چا وپوهولم چې ځان ديسکو کړم کنه نو يوازي د ډول (دوهل) لګښت ليکي زه چې په دې باريکو پوهيدم ،نو د خپل لمسي پرانګي پتلون مې واغوست . ريشکي بوټونه مې په پښو ، مونتانا بيک مې پر غاړه ، ژاولي په خوله ، زنځير په لاس د ای يم ديسکو ډانسر په زمزمه کولو سره کميسيون ته ورغلم . هغوي زما د سپيني ږيرې او کنډولې خولې او ډسکو کاليو په حرمت کلاسيکه موسيقي د نويو ځوانانو په اواز کې راته وليکل ، ډيري زاری مې ورته وکړې چې جازوبم موسيقي چې کانه يې هم اوري او خوند ترې اخلي راته وليکي خو هغو چې رشوت نه خوړی او ويې نه منله.

د سينګارځي د کميسيون راته وليکل زيبايې در ساده ګي است خو د بورې د پارچو په بدل کې يې وليکل زيبايې در ارايش غليظ است..

چې فورمه مې ډکيده يوازي د(الف) او (ب) احتياطي پارچې پاتي وې. ان کتابچه يې هم کوم کميسيون رانه واخېستله ، دا دوي پارچې مې د فورمې سره سنجاق کړې او اړوندي شعبې ته په ډيره بېړه ور وړه او هلته يې يوه نمره راکړه او چې راوتلم نوراته يې وويل :

دوه سو کالووروسته بيايو خبر ونيسه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې ټکي په اوريدو سره مې پښه د دوتر په ميز کې بنده شول او هغه وو چې له خوبه راکښيناستم د ځان سره مې وويل: دا ناممکنه ده چې دومره ژر دي د کور خښتن شم .

کابل ۱۹۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غوښو ضررونه

په دوتر کې ناست وم هوا توده وه بریښنا (برق) نه وه چې پکه چالانه کړ م ، نو مې یوه نوې ورځپاڼه چې ښه پکه پرې وهل کیدله راواخیستله او په پکه وهلو مې پیل وکړ . د یو مطلب سریزه(د غوښو ضررونه) په لیدو مې د لوملړی ځل لپاره د مطلب پوره لوستلو ته زړه خوشاله کیده او ورو ورو د زړه ضربان مې ډیریده نو د ځان سره مې وویل:

زرینه! لکه چې د غوښو د رانیولو څخه بېغمه شوې ! او د ځان سره مې حساب پیل کړ : که د مېلمنو او کور لپاره غوښې رانه نیسم نو په تنخواه مې هرومرو ګذاره کیږي په ډیره خوشالۍ مې پیاده ته برغ کړل :

جانو کاکا نورو ټولو کارمندانو ته برغ کړه.

ټول مامورین آن د جنسي ، خدماتو ،او معاش کارمندان په چټکي یو د بل پسې دوتر ته راغلل د هغو په ګمان چې د سیلو ډوډۍ مې ورته راوړي ده زما پر میز راټول شول او ما د د غوښو ضررونه تر عنوان لاندي مطلب په لوستلو پیل وکړ:

(غوښه اصلاً د انسان خواړه نه بلکې د ځناورانو خوراک دی او په نابېره توګه د بنیادمانو په خوړو کې ننوتې ده ، د هغو څیړنې له کبله چې د امریکا په ایالاتو کې تر سره شوي د غوښو خوړل د بډوډي د زهري کیدو د ځیګر د خرابیدو سبب ګرځي ، معده کمزوره وي...لنډه دا چې د انسان عمر نیموي...)

د کارمندامو څخه هر یوه د دې مطلب په هکله په نظر ویلو پیل وکړ:

مامور افضل د جنسي مامور ویل:

- ولا رښتیا! زمو ږ په کلي کې بابا خیرو یو سلو لس کاله ژوند وکړ ، ځکه چې په ژوند کې یې په غوښه باندي څکه هم نه وه کړې.

مامور عباس د ارشیف مامور داسي زیاته کړه:

دا ښه ده چې تنخواه مو ډیره نه ده که نه نو اوس به په څه ناروغیو اخته نه وای.

بي بي نازو د دوتر ټایپستي چې ډیره هیجاني شوې وه په ماته ژبه وویل:

زموږ د ښی خوا ګاونډۍ چې تجار وو د ډیرو غوښو د خوړلو په وجه د بډوډي د ناروغي څخه یوه اوونۍ مخکي مړ ....

د املاکو مدیر رجب ګل په ډیره مینه د بي بي نازو خبري پرې کړې او ویې ویل:

دا کومه ګنه ده ؟ باید ټول د هغې یوه یوه ګنه د میلمنو او د کوشنیانو د مور د قناعت په خاطر د ځان سره ولرو . ټولو مامورینو د سر په ښورولو او هو ویلو دا وړاندیز تایید کړ ، دستي مو پیسې ټولي کړې او د مامور شیرین ته مو دنده ورکړه چې ژر تر ژره شل ګنې د همدې ورځپاڼي راوړي

. موږ ترغرمې په همدې موضوع تبصرې وې. دولس بجې په یوه بهانه د دوتر نه راووتم څو دا مهم او ارزښناکه سند ژر د الله مبارک مورته ورښکاره کړم .و سپرلۍ ګاډۍ (سرویس) ته وختم ، څنګ ته مې یو چاغ سړي چې یوه یوه نیمه کیلو غوښه یې په همدې ګنه کې نغښتې وه ناست وو ، زړه مې را ته ویل چې دا مطب په لوړ اواز په سرویس کې ولولم او ټول سرویس د غِوښو په ضرر وپوهوم ، ولي جرات مې ونشو کړای ، نوهغه و چې مخ مې د څنګ ناست چاغ سړي ته واړوی او په فیلوسوفانه لهجه په داسي حال کې چې ورځپاڼه مې ورښکاره کوله ویل:

دا مطلب مو لوستی دی ؟ دلته یې لیکلي دي چې غوښه اصلاً د ځناوروخوراک دی ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځنگ سړي یو وار راته سور او شین شو اوپه لوړ اواز یې په داسي حال کې چې په بریتو یې لاس تیراوه را باندي چیغه کړه:

غوښه د زمریانو خوراک دی نه د گیدړانو! ته دي قواره گوره ، مخ یې نورو سپرلیو ته ورواړاوه او ویې ویل: چې وس یې په غوښو اخیستلو نه رسیږي بیا یې خبري گوره

د ځناورانو خوراک! په داسي حال کې چې مخ یې بیا ما ته راواړاوه:

ځناور خو ته یې چې غوښې نه شوای رانیولای زه چې ډیر توهین شوی وم ببله دې چې سوچ وکړم شخړه مې ورسره پیل کړه:

غوښه د زمریانو خوراک دی!

-نه دی!

-دی!

-نه دی

-دی

د سرویس سپرلیو د هغه پلوي کوله . سرویس لا یو تمځی نه وتلی چې چاغ سړی له ځایه پورته او په غوسه یې وویل:

دا لومړی ځل دی چې وه سرویس ته پورته کیږم نه پوهیدم چې دلته داسي احمقانو سره مخامخ کیږم له سرویس نه کوز شو او یو ټکسي ته وختوت.

زړه مې له ډیري غوسې پړسیدلی وو چې ولي نورو سپرلیو د چاغ سړي پلوي کوله نو د همدې مطلب د پوهیدلو په پار مې د شا څوکۍ یو ځوان ته ورځېرانه وربشکاره کړه ، هغه هم زما خبرې تایید کړې ما په غوسې ځیني وپوښتل:

نو ولي مو د هغه چاغ سړي خبرې تایید ولې ؟

هغه راته وویل: د هغه خبره درسته وه ځکه غوښه د زمریانو خوراک ده زه په خپله تیروتنې پوه شوم ځکه چې زمری خو انسان نه بلکي ځناور دی ، د کړکۍ نه مې بهر وکتل چې گوندي چاغ سړی ووینم او ورته ووایم : بلې بلې غوښه د زمري خوراک دی خو زمری انسان نه دی . خو هغه نه وو.

کور ته د رسیدو سره سم مې د الله مبارک د مور نه وپوښتل:

څه دی پاخه کړي دي ؟

ښځې مې په ډیره خوشالۍ راته وویل:

دا چې زموږ د گاونډي د میرمني لیور په ښاروالي کې پیاده دی نن یې پر موږ باندي د زړه سوی په خاطر د ښاروالي په بیه غوښه راوړې او ما دهغې نه ښه ښوروا پخه کړې ده ، ما په داسي حال کې چې ورځېرانه مې و رښکاره کوله ورته وویل:

غوښه مضره ده د خدای دپاره غوښه مه خورئ غوښه بدوډي زهري کوي ،غوښه.....

د غوښې داسي بد ویل مې و رته پیل کړه تا به ویل چې د پلار پلار دښمني مې ورسره ده ، نه پوهیږم چې ولي زموږ خبرې دومره کښته پورته شوې چې میرمن مې په غوسه راته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

موړ یې خورو که ته یې نه خوریٔ تا ته به بل کوم شی تیار کړم . او هغه وچې له چایو سره یې وچه ډوډۍ راته کېښوده او دوی په مزه مزه ښوروا نوش جان کړه.

په زړه مې یوخداي خبروو . طاقت مي ونه شو کړای او په لوړ اواز مې وویل:

غوښه د څناورانو خوراک دی بېووډی..معده....ځیګر...

میرمني مې په غوسه راته وویل

- نور خلک یې ولي خوری ؟

-تاسو نادانان یاست د امریکې پوهانو څیړنه کړې ده....

خو میرمني مې ورځپاڼه لیري ګذار کړه او په غوسه د پلار کره ولاړه.

سبا کله چې د خسر کره ورغلم ، خواښې مې خپله لور پوه کړې وه هیڅ یې راته ونه ویل. چې ډوډۍ راغله نو خواښې مې د قورمې قاب زما له مخي نه چې بوی یې زما پزه تخنوله لیري کړ او پر ځای یې د پوډري هګیو خاګینه راته کېښودله. اوس چې هر چیري که واده وی یا میلمستیا نو ما ته د غوښې پر ځاي سور کړي پټاټي چې چپس یې بولي یا دال او یا پوډري هګۍ مخي ته ږدي او ورسره دا خبره هم کوي چې ما ته ډیر زور راکوي

د زرین جان! غوښه نه خوري حساسیت ورسره لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشابه نومونه

زموږ د تاریخ ښوونکی یوه ځانګړتیا دا ده چې نومونه به یې د یو بل سره غلطول هر وخت چې ټولګي ته راغي نو نسیم ته به یې عبداله ، عبداله ته خلیل ، خلیل ته قمبر وایه

یوه ورځ چې ټولګي ته راغلي نو غلام ته یې وویل :نورالله ته د پرون لوست تکرار کړه.

او خپله په قدم وهلو شو ټول چوپ وو ښوونکی په غوسه شو او بیا یې تکرار کړل:

نورالله دي لوست تکرار کړی بیا راغی غلام ته یې ګوته ونیوله

نورالله ولي ځواب نه راکوې!

- صیب زه غلام یم! ښوونکي لږ جټکه وخوړله او ویې ویل:

مقصد مي غلام وو!

موږ نه پوهیدو چې احمد شاه بابا ، بابر ووکه تیمور شاه و که وزیر اکبر خان....

دومره پوهیدو چې پاني پت فتح شوی ولي دا چې چا فتح کړی غلام سخي ، نورالله که قسیم نه پوهیدو ددې جنجال د ختمیدو په خاطر ښوونکي موږ ته کورنی کار راکړ چې هر یو دي خپل نوم پر یو ټوکر وګنډي. موږ ټولو دا کار وکړ ، خوبیا هم چا چا نوم په ټټر نه ټومبی هغه به له پوښتني څخه خلاص وو غبی شاګردانو به د جامو د پریولولو په پلمه نوم پر ټټر نه ټومبی .

موږ په تاریخ کې په نیټو پوهیدو خو د پاچاهانو په نومونو نه پوهیدو ،

پوهیدو چې یو پاچا ۲۴ زامن درلوده اوپایتخت یې کابل ته ولیږدوی خو نه پوهیدو دا احمدشاه وو تیمور شاه که زمانشاه و...

نور نو موږ په یو بل نومونه کیښوول چې ښوونکی ته اسان شی .:تپین ،ژړ ،لېونی ،کچل ،پک ،

یوه ورځ زموږ ټولګي ته دوه نوي شاګردان را وپیژندل شول چې په حقیقت کې په دغه ګڼو نومونو کې دوه نور هم زیات شول چې ټولګي ته راغلل نو د تاریخ ښوونکي ترې وپوښتل

هلک ستا نوم څه دي :

جبار

بیایې د دویم شاګرد نه وپوښتل هلکه ستا نوم ؟

موږ ناري کړل:

بیزوګی

ښوونکی په غوسه شو او ویې ویل:

بلا مو وواهه په دې مشابه نومو څه خپلوان خو نه یاست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانګړې مصاحبه

خبر يال (خبرلوخ) د يوې ډلې سندر غاړو سره د مرکې په ترڅ کې يې لومړي د بلبل څخه وپوښتل:

ستاو په زمزمه کې څه راز پروت دی چې شتمن او خوار ټول ستا ليوال دي ؟

بلبل په ډير پراخ تندي ځواب ورکړ ،

زړه لري ټول که خان وي که خوار

بيا خبريال د کينري نه پوښتل:

ستا د يوازيتوب د زمزمې مطلع څه ده ؟

واړه عاشقان دي خوک چې و ړي په نس په دې جهان دي

نو همدا علت دی چې د دې زمانې عاشقان ستا د ږغ سره مينه لري

خبريال بيا مخ زرکې ته کړ او ځيني يې وپوښتل:

تاسو چې کله په لرګينه قفس او کله د جنګ په ميدان کې ياست د سندورو مطلع مو څه ده ؟

زرکې لکه چې زړه يې د چا نه کوټل شوی وي په يوه سا وويل : ازادي ازادي ازادي

خبريال د کرک نه وپوښتل:

ستا په ږغ کې څه مطلب نغښتی دی ؟

کرک يو سوړ اسويلی وکيښ او ويې ويل:

مياو ، مياو ، مياو(پيشو) زه کرک دلته يم ځکه د ډير لاس مروړلو څخه د پيشو خوړل شرافتمندانه ګنم.

خبريال بيا د چونګښې څخه وپوښتل:

ستاد زمزمې مطلع څه ده ؟

هغې ويل: قناعت قناعت

خو د هيچا نه خوښيږم له همدې کبله نژدې دی چې له اتحادې نه مې وباسي.

خبريال له خره نه چې تراوسه يې په سندرو کې ډيري وياړنې تر لاسه کړی ، څو ديپلومونه او جايزې يې اخيستي او په څو ملي او بين المللي فيستوالو کې يې هم برخه اخيستي ده وپوښتل:

محترمه ستاسو اواز چې موډ روز او د جاز موسيقي د ټون سره برابر دی آيا پوښتلای شم چې د اهنګ مطلع مو څه ده ؟

خره خپله غاړه تازه کړه او په لوړ توخي لرونکي ږغ يې وويل:

زه چې هر وخت واورم چې کوم کانکور ، جايزه يا بورس دی نو په بېړه اتحادې ته ځان رسوم خوله اسمان ته نيسم او په هر څه توان چې لرم نارې واهم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای واسطې را رسیږه ، رارسیږه

د واسطې له رارسیدو نه مخکې چې یې نه لرم زما د لوړ اواز په احترام چې څوک فکر ونه کړي چا وهلی یم هغه ما ته راکوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رییس غروب

د اداري مجلس د پیل څخه مخکې عمومي او واړه مدیران په لوی دهلیز کې داسې سره را ټول شوي وو لکه مچان چې په خوږه ګوړه را تاوويي په خبرو لګیاوو

د خدماتو مدیر جلندر خان لاس پر دیوال تیر کړ او ویې ویل :

پوره وهنه شوي ده ګوری لاس سپیره کوي

د ساتنې او څارنې مدیر صدیق خان پرته له دې چې خبره جوړه کړی په ناجوړه کلماتو د خدماتو مدیر جلندر خان ته په پسخند وویل:

کانتین ، دومره لوی کانتین څوک په دوه سوه په کرایه ورکوي د یوې کڅوړې شرینک بیه ده .

د هریوه له خیرې مالومیده چې غوښتل یې د خپلي پاکي د اثبات لپاره اسناد ولري نو یو بل ته یې په شکمنو سترګو کتل .

دا شوي هغه شوي خبري کرار کرار تودې شوې د یو بل خطاب سرحد ته ورسیدې او ټول په کې را ګیر شول .

په دې وخت کې جناب رییس صیب تشریف راوړ او ټول مدیران لکه د شاتو مچی ورپسې د رییس دوتر ته ننوتل او رییس په خپل ځانګړ میز تر شا کیناست او غونډه پیل شوه:

لومړی اجندا د موسسې د شاو خوا ځمکې د اجارې په هکله وه چې د ساتنې او څارنې مدیر پوري یې اړه لرله د ارشیف او خدماتو مدیرانو ګډ سنګر نیولی وو غوښتل یې هغه برملا کړي نو د ارشیف مدیر د شف شف نه تیر شو او په پسخند سره یې وویل:

د مدیر صیب خولی بیا په غوړو کې شوه تاسو یې دا په سپینه ږیري ډسکو جامپر چې په لیکل شوی دی (ای لف یو) وګوري ، پوهیږي! د چا نه یې اخیستي دي ؟ وګوری وګوری!

ټول مدیران د ساتنې او څارنې په مدیر داسې په غوسه وو ته به ویل د دوی برخه یې خوړلې ده نو د ارشیف د مدیر په خبرو یې زړونه تش شول او ټول مجلس په خندا شو.

د ساتنې او څارنې د مدیر ژبه په خوله کې وچه شوه. د املاکو مدیر جمرود چې د ساتنې او څارنې د مدیرحریف وو داسې وویل:

محترم صدیق خان! ووایه ، هغه تلویزویون دې به یاد دی ؟

د موسیسې د معاون نوراجان لخوا د میز د سر زنګ ته ګوته ور وړه او و رسره یې وویل:

-مستند ، مستند

د محاسبې مدیر هم د دې لپاره چې ځان پاک وښیي د ساتنې او څارنې مدیر ته وویل:

هغه سلیپر بوټ دې څه کړی وایي دیرش زره یې بیه وه !؟

د ساتنې او څارنې د مدیر په تندي خولې لکه مرغلري دیخوا هاخوا لغړیدې حریفانو راګیر کړی وو نه پوهیده کوم مستند شی د غونډې حاضرینو ته وړاندي کړي دیخوا هاخوا ټول حریفان یې تر نظر تیر کړل خو د خدماتو د مدیر چپلیو یې سترګې وبرېښېدې ، نو د واره یې د هغه په پښو و رټوپ کړل او په دواړو لاسو یې هغه د میز سره ته را پورته کړې او په خندا خندا یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

وګورئ دا یې مستند (ووایم چې له چا نه یې اخیستي دي) د خدماتو مدیر په ځوکۍ کې لویدلی وو او پښې یې پر میز پورته وې ژیړ ژیړ یې د غونډې غړو ته کتل او د غونډې د غړو سره یې په وقفه یې توګه خندل.

د کارمندانومدیر هځه کوله خپل کمیس په کرتی کې پټ کړي د محاسبې مدیرخپل دیپلومات د میز لاندي ورو ورو په پښه تیله کاوه د سوانح مدیر خپل کمر بند سست کړ چې پایڅې یې نوی کلوشې پټي کړې رییس هم ورو په خپل دسرو زرو ګوتې ښی لاس کیښو خو د رادو ساعت ښوبیني یې سترګې وتخنولې نو ورو یې کیڼ لاس تر میز تر شا کړ د دریشي انګریږي ټوکر یې هم ورته مشکوک ښکاره شو نو کرار کرار یې د میز تر شا غروب پیل کړ تر ستوني تر میز تر شا پټ شو چې قره قلۍ خولۍ ته یې پام شونو غروب یې تکمیل شو. ا جندا لا نه وه تمامه شوې چې رییس صیب د میز له شا نه زنګ ته ګوته وروړه او د میز له شا نه یې ږغ پورته شو:

بلا مو وواهه د خندا مړ کړم. غونډه ختمه شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پور اخیستل

میرک چې په عمر کې یې اخیستل شوی پور بیرته نه وو ورکړی په پلمو ،بهانو به یې پور واخیست خو ورکول یې په قسمونو ، تاویزو ، او توټکو هم نه تر سره کیدل اوس هغه ټولو پیژانده چې د چا پور نه ورکوي . یو تن کلیوال چې ښار ته نوی راغلی و و خپله چرګه یې میرک ته په پور ورکړه دواړه خوشاله ښکاریده ځکه میرک کلیوال نه پیژاندی او کلیوال میرک.

کلیوال یوازي غوښتل د میرک کور ووینې او هغه یې هم ولید او یوه شپه یې ورسره هـ تیره کړه او په سبا کلي ته ولاړ

میرک ډیر خوشاله وو دوه ورځي وروسته کلیوال د دوه نور کلیوالو سره چې د کیمیاوي سرې اخیستلو لپاره ښار ته راغلي وو ورکړه میلمانه شول او ضمناً یې د خپلې چرګې د روغتیا خبریې هم واخیست یوه اوونۍ وروسته بیا کلیوال سره د میرمني او پنځه ماشومانو د تذکرې د اخېستلو لپاره ښاره ته راغلل او شپه یې د خپل بلدي اشنا کره ورسول او د خپلې چرګې د احوال نه یې هم خبر واخیست او ماشومانو یې هم هغه پردیسه له نژدې ولیدله. درې و رځي وروسته کلیوال خپل د ګاونډي ناروغه میرمن اود ماشومانو سره د میرک کره میلمانه شول او هم یې د چرګې خبر واخېست او دید او باز دید یې ور سره وکړ. میرک سهار د چایو پر ځای په پتنوس کې د چرګې بیه مخې ته ورته کیښوده کلیوال پیسې جیب ته کړې او ولاړ. میرک شکر وکړ چې له دې جنجاله خلاص شو په دویمه ورځ کلیوال د سودا پسې ښار ته راغی نو د چرګې د ا حوال په خاطر د میرک کورته هم ورغی ، میرک په مشکوک ډول ترې وپوښتل :

اخیر پور خو مې درکړی بیا د څه له پاره راغلی یې ؟

کلیوال په ډیره ساده ګي وویل:

د چرګې پوښتنې ته راغلی یم. رښتیا !

څنګه ده ، هګۍ اچوي ،کړت کړت کوی کلي یې نه یادیږي ؟ که ستا خوښه وي خو شپې به یې کلي ته بوځم او د یو سوړ اسویلي وروسته یې وویل :

اي زما پردیسې خواري چرګې! چې زه دی خبر وانه خلم څوک به ستا خبر واخلي

میرک پوه شو چې کلیوال هیڅ کله دا پر دیسه بې پوښتنې نه پریږدي نو هغه و چې مهاجر شو.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library